Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Rural Rehabilitation & Development

د کليوالي اقتصاد پياوړتيا / WEERDP

د ټولنيزو چارو او چېرپال ساتنې لپاره د مديريت د پلي کولو څانګه

# د ښځو اقتصادي ځواکمنتيا ـ د کليوالي پرمختيا ملي پروګرام د چاپېريال ساتنې کاري چوکاټ

## د موضوعاتو فهرست/ لړلیک


١. د مخففاتو تعریف
٢. اجرایوي لنډيز
٣. پروژې موخې
٤. د پروژې برخې
لومړۍ برخه: د ټولنیزه بنسټونو پرمختیا
فرعي څانګه ١,١: د سپما ګروپونو او د خوشا تمویلي بنسټونو پرمختیا
فرعي څانګه ١,٢: د سپما ګروپوو او د خوشا تمويلي بنسټونو روزنه او پیاوړتیا

دوهمه برخه: دمالي سرچینو جوړول او له نورو تمویلي بنسټونو سره د هغوی اړیکې ټینګول
فرعي څانګه ٢,١: د ټولنې پر بنسټ د سپما ګروپونو غړو لپاره په سیمه ییزه کچه تمویلي مرکزونو ته د مقطعي پانګې ورکړه.
فرعي څانګه ٢,٢: په ابتکاري بڼه د مالي تولیداتو او خدماتو پرمختیا او د هغو اړیکې له تمویلي بنسټونو او سوداګریزه بانکونو سره ټینګول.
دریمه څانګه: د بازار موندنې په برخه کې تخنیکي مرسته او مارکیټونو ته لاس رسی.
فرعي څانګه ٣,١ د صنعتي ګروپونو او په ولایتي کچه د تولیدي اتحادیو پرمختیا.
څلورمه څانګه: د پروژې مدیریت، او پوهې مدیریت او ددې ترڅنګ د پروژې د پلي کولو نظم او سمون.
٥. دپروګرام ساحه/ سیمه
٦. د (ESMF) لپاره اړتیا
٧. د (ESMF) شالید
٨. پالیسي او د چاپیریال ساتنې لپاره قانوني نظم او سمون یا اصول
د (WEE-RDP) پروګرام د (ESMF) د ودې او پراختیا په پام کې لرلو سره د نړیوال بانک اجرایوي پالیسۍ په ډېرې زیرکتیا تعقیبوي. چې لاندې محتویات په ځان کې را نغاړي.
٨,١. په اجرایوي او کاروباري پلانونو کې د ٤,٠١ له مادې سره سم د چېریال ساتنې ارزونه:
٨,٢ په اجرایوي او کاروباري پلانونو کې د ٤,٠٩ له مادې سره سم د افتونو مدیریت
٨,٢ په اجرایوي او کاروباري پلانونو کې په عمدي توګه د بیرته را ستنیدونکو د ځای پر ځای کیدو موضوع
٩. پلي کیدونکي قوانین او مقررات:
٩,١ د چېریال ساتنې قانون
٩,٢ د چېریال د لنډ مهالې ارزونې اغیز او اندازه (٢٣ مه) ماده
١٠,٣ د اوبو د زیرمو ساتنه/ دوام او د هغو مدیریت:
٩,٤ د افغانستان د تاریخي عابداتو او کلتوري اثارو خوندي ساتنه
٩,٥ د طبیعي پیبنو قانون ( ٢٠١٢ ز) کال مسوده چې باید ترویج شي.

۹,٦  د چاودیدونکو توکو د ګوابښنې یا خطر لپاره د مدیریت پروسه.
۹,۷ په نړیواله کچه د چاپیریال ساتنې کنواسیون او تړونونه.
۱۰. په بالقوة توګه د ټولنې او چاپېریال بد اغیز او د هغو د کمولو اندازه (۱۸)
۱۰,۱ په بالقوه توګه د چاپیریال ساتنې تأثیرات
۱۰,۲ په بالقوه توګه د ټولنې د ساتنې تأثیرات
۱۰,۳ د کمولو یا کمښت ورکولو تأثیرات

۱۱.  د ټولنې د خوندي ساتنې ستراتیژي.
۱۱,۱   وړتیا جوړول/ د ظرفیتونو لوړول
۱۱,۲ د خوندي ساتنې  د حفاظت د پلې  کولو یونټ/ څانګه
۱۱,۳   د زون  په کچه دفترونه
۱۱,۴   د ولایتونو،  ولسوالیو او سیمو په کچه د ټولنې او چاپېریال ساتنې  دفترونه، کلیوال اسانچاري او د ټولنې د خبرتیا مرکزونه.
۱۱,۵   هغه ټاکل شوی چک لست  چې  په کلیوالي صنعتونو، تولیدي اتحادیو، د ولایت په کچه تولیدي اتحادیو او کوچنیو او منځنیو صنعتونو تشبثاتو باندې یې پلي کول اړین دی.
۱۱,٦  څارنه او د هغو را پور ورکول.
۱۱,۷ تخنیکي مرسته یا همکاري.
۱۱,۸  د ټولنې او چېریال ساتنې د کاري چوکاټ د مدیریت لپاره بودیجه.
۱۱.  د (WEE-RDP) په اړه د شکایاتو د ترلاسه کولو او د هغو د حل میکانیزم.

# د مخففاتو ترکیب

| | |
|---|---|
| AREDP | (د افغانستان د کلیوالي صنعتونو د پرمختیا پروګرام) / Afghanistan rural development program |
| CDC | (د ټولنی د پرمختیا شوری/جرګه) Community Development Council |
| DA | (د ولسوالۍ اداره) District Administration |
| DC | د ولسوالۍ په کچه انسجام مسول District Coordinator |
| EG | (صنعتي/ تشبثي ګروپ) Enterprise Group |
| ESS | ( د ټولنې او چېریال ساتنه) Environment and Social Safeguards |
| EO | (د صنعت څښتن/مالک) Enterprise Owner |
| ESMF | (د ټولنیزو چارو او چېریال داداري لپاره کاري چوکاټ) Environmental and Social Management Framework |
| FD | (د ځنګلاتو څانګه/ډپارټمنټ) Forest Department |
| FI | (د مالي لګښت سرچینه یا بنسټ) Financial Institution |
| GoA | (د افغانستان حکومت) Government of Afghanistan |
| GRM | (د شکایاتو د اصلاح میکانیزم) Grievance Redresses Mechanism |
| IDA | (نړیواله پرمختیایي اداره) International Development Association |
| MAIL | (د کرنې، اوبو لګولواو مالدارۍ وزارت) Ministry of Agriculture, Irrigation & Livestock |
| ME | (کوچني صنعتونه/تشبثات) Micro Enterprise |
| MFI | (د کوچنیو پورونو بنسټونه/ سرچینې) Micro finance Institution |
| MIS | ( د معلوماتي تکنالوژۍ د مدیریت سیستم) Management Information System |
| MoPH | (د عامې روغتیا وزارت) Mistry of Public Health |
| MoLSA | (د کار او ټولنیزو چارو وزارت)Ministry of Labour and Social Affairas |
| MoWA | (د ښځو چارو وزارت) Ministry of Women Affairs |
| MOCI | (د سوداګرۍ او صنایعو وزارت) Ministry of Commerce and Industry |
| MRRD | (د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت) Ministry of Rural Rehabilitation and Development |
| NEPA | (د چېریال ساتنې ملي اداره) National Environnemental Protection Agency |
| NGO | (غیر دولتي مؤسسې) Non-Gouvernemental Organisation |
| NSP | (د ملي پیوستون پروګرام) National Solidarity Program |
| OM | (اجرایوي لارښود کتاب) Operational Manual |

| | | |
|---|---|---|
| PA | (ولایتي اداري څانګه) | Provincial Administration |
| PEF | (سیمه ییزه صنعتي اسانچاری) | Provincial Enterprise Facilitator |
| PMO | د (AREDP) مرکزي دفتر په (MRRD) | Program management office of (AREDP) at (MRRD) |
| PO | (ولایتي دفتر) | Provincial Office |
| RD | (دعایداتو څانګه) | Revenue Department |
| SG | (د سپما ګروپ) | Saving Group |
| SO | (د ټولنیزه ارګانونو پرمخوړونکي) | Social Organizer |
| SIU | د حفاظتي تدابیرو د پلي کوونکي (ساتندویه بیړنۍ ډلګۍ) یا | Implementations Unit (Safguards Desk Unit) |
| SME | کوچني او منځني صنعتونه/تشبثات — | Small / Medium Enterprise |
| VF | کلیوال اسانچاری — | Village Facilitator |
| VSLA | د پور او سپما کلیوالي اتحادیه — | Village Savings and Loan Association |
| WB | نړیوال بانک — | World Bank |
| WEE-RDP | د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا او د کلیوالي تولیداتو د پرمختیا پروګرام. | Woman Economic Empowerment – Rural Development Program |

## ۲.    د اجرأتو لنډیز:

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت (MRRD) ستر ماموریت دا باور ترلاسه کول دي، چې په کلیوالي کچه اقتصاد پیاوړی او په ټولینزه ژوند کې له اقتصادي او سیاسي اړخه سوکالي راولي. په ځانګړي توګه هغو بې وزلو او دردیدلو کلیوالو ته د لومړنیو خدمتونو په وړاندې کولو سره په سیمه ییزه کچه د دولت محلي اداري پیاوړي کول او د دوامداره ژوند لپاره د عایداتي سرچینو پیاوړي کول یې ځانته ستر هدف ټاکلی. چې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت دا ستر ماموریت د یو شمیر مرستندویانو په مالي مرستو سره په هغو ځایونو کې د اقتصاد او عایداتي سرچینو د پیاوړتیا په موخه پلي کوي، کومې سیمې چې د دولت تر ولکې لاندې دي.

د افغانستان دکلیوالي صنعتونو دپرمختیا ملي پروګرام (AREDP) په تیرو کلونو کې له هر ډول کاروبارونو / صنعتونو او تشبثاتو سره د پرمختیا په برخه کې د هیواد په پنځو ولایتونو کې کار کړی دی، چې په عمدي ډول یې ډیرې ښځې پخپل پروګرم کې را ښکیل کړل، دې پروګرام د کلیو په کچه ښځو ته لاره اسانه کړله ترڅو خپل اقتصاد په سپما ګروپونو کې د برخې اخیستنې له لارې پیاوړی کړي او بیا د کلیوالي کاروبارونو د ودې او پیاوړتیا په موخه له دې سپما ګروپونو څخه په کلیوالي کچه د پور او سپما له دې سپما ګروپونو څخه تشکیل کړي. چې د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو د مالي تمویل پر مټ به خپل کوچنې او منځنې کاروبارونو او داسې نورو ته وده او پرمختیا ورکړي. لیکن ربښتیا هم چې په ټوله کې د افغانستان د کلیوالي صنعتونو دپرمختیا ملي پروګرام( AREDP) کې د ښځو ونډه اخیستنه له ۵۸ سلنې څخه لوړه وه چې دا یوه ډیره ستره شمیره ده، او د ستراتیژۍ له مخې دا شمیره دا اندازه په ډاګه کوي چې د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا په برخه کې دا تګلاره څومره ګټوره ثابته شوې ده.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا په لوري د افغان دولت دا اقدام ترسره کول ددې ښکارنده ثبوت دی چې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا ـ په ملي کچه د لومړۍ درجې پروګرام ګڼل کیږي ، چې ډیر جامع دی او یوه ستن یې د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا او د کلیوالي تولیداتو د پراختیا پروګرام دی. د افغانستان د کلیوالي صنعتونو دپرمختیا ملي پروګرام له خپلو تجربو او بریاو سره ددې پروګرام لپاره ډیر مناسب دی او هیله ده چې په ډیر سیستماتیک ډول دې موخې ته ورسیږي او د کاروباری خدمتونو د وړاندې کوونکي په توګه د ملګري او همکارې موسسې په توګه د کاروبارونو / تشبثاتو د پرمختیا په برخه کې په هر کچه مداخله وکړي په عمومي توګه له هغو بنسټونو سره چې د کلیوالي اقتصاد د پرمختیا په برخه کې کار کوي او په ځانګړي توګه به یې ډیر تمرکز د ښځو په اقتصادي پیاوړتیا وي. تر کومه چې د افغانستان د کلیوالي صنعتونو دپرمختیا ملي پروګرام ارتقاء د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لور ته ده نو په دې سره به دا اداره وکولای شي چې د ډیرې سترې نماینده ګې په ښه اسانتیاوې پیدا کړي او د یو پلي کوونکي او اسانتیا پیدا کوونکي ملګري په توګه به خپل خدمتونه وړاندې کوي، چې له دې پروګرام سره به د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا په برخه کې د ولسي تړون پروګرام هم په ټولو برخو کې ملګرتیا او همکاري کوي.

د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا ـ د کلیوالي تولیداتو دپرمختیا ملي پروګرام په داسې ښه ډیزاین شوی چې په مرکزي توګه یې ډیر پام په ښځو دی چې دا پرورګرام به ۳۴ ولایتونو ته د غوره بنسټونو په پام کې نیولو سره چې موخې یې د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا ده په ملي کچه د لومړۍ درجې د پروګرامونو تر نامه لاندې وغزول شي. دغه نوې پروژه په دې نیت جوړیږي چې په ټوله کې د افغانستان د کلیوالي صنعتونو دپرمختیا ملي پروګرام له تجربو سره په کلیوالي کچه کار وکړي او هم مهاله په یوې داسې تګلارې سره د ټولنیزه پرمختیا اتحادیې تشکیلې کړي چې د کلیو د بیا رغونې اوپراختیا وزارت د ولسي تړون د پروګرام تر څار لاندې د کلیوالي اقتصاد د پرمخیتا لپاره کار وکړي.

د WEE RDP تر سیوري لاندې به د پروژې د فعالیتونو په پلي کولو کې د غیر دولتي ادارو، خصوصي سکټورونو، انستیتیوټونو، سازمانونو او مدنې ټولنو مرسته او همغږۍ ترلاسه کول اړین وي ، له همدې امله به له عامه او خصوصي سکټورونو سره د مرستې او همکارۍ په موخه اړیکې لا پیاوړې شي. ترڅو په کلیوالي کچه د ښځو لپاره د تخنیکي مرستو او مالي سرچینو د تر لاسه کولو لپاره لارې چارې نور هم اسانه شي. همدا راز دا همغږي به له

دولتي ادارو لکه: د ښځو چارو وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د کرنې اوبو لګولو او نورو دولتي او غیر دولتي ادارو، مدني ټولنو سره لا پراختیا ومومي . چې له یوې خوا د پروژې د غوښتنو پر بنسټ د مارکیټ/ بازار موندنې لپاره جوړې شوې تګلارې پلي کولو ته وړاندې شي. چې په ملي، ولایتي او سیمه ییزه کچه د بازار په اړیکو کې د ښځو د اقتصاد په ځواکمنتیا کې پراختیا رامنځته شي او له بل پلوه به په فرعي سکتورونو کې د ښځو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره کاروباري فرصت را منځته شي. همدا راز په ملي کچه به دا هم څرګنده شي چې ښځې د تصدیو/ کاروبارونو رهبري په هوسا ډول کولی شي او د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د ښځو په رهبری ستر کاروبارونه هم وده او پرمختیا کولی شي.

## ۳. د پروژې موخه:

د WEE-RDP د پروژې پرمختیایې موخه دا ده چې د افغانستان په ټاکل شویو سیمو کې د بې وزله کلیوالي ښځو ټولنیز حیثیت او اقتصادپیاوړی شي.

په ټوله کې د WEE-RDP موخه د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا پیاوړي کول دي، چې د اقتصادي ځواکمنتیا او په ځان د بساینې لپاره وکولای شي په ټولنه کې کاروبارونه / صنعتونه او تشبثات اداره او پرمخ یوسي، ترڅو له دې لارې ښه عایدات ترلاسه کړي. چې په دې کار سره به کلیوالي ښځې د خپلو اقتصادي ځواکمنتیاو لپاره مالي سرچینو او بازارونو ته د لاندې کلیدي پایلو سره سم لاس رسی پیدا کړي:

- ( سلنه) بې وزله او له اقتصادي پلوه ډیر دردلي کلیوالي ښځې د سپما ګروپونو لور ته په تحرک کې راشي او دا سپما ګروپونه به په تدریجې توګه باثباته او دوامداره د پور او سپما په کلیوالي اتحادیو ته لوړ کړل شي.
- ( سلنه) د سپما ګروپونو او د پوراو سپما د کلیوالي اتحادیو اړیکې به ( له رسمي او غیر رسمي مالي تمویلي بنسټونو سره ټینګې کړل شي.
- ( سلنه) د سپما ګروپونو د هغو غړو په کچه کې به زیاتوالی راشي چې د کلي په کچه نوي کاروبارونه پیل کړي،
- او ( سلنه) د سپما ګروپونو د غړو په اړه به د ا راپور ترلاسه شي چې په تولیدي اثاثه کې یې زیاتوالی راغلی.

## ۴. د پروژې څانګې:

### لومړۍ څانګه: د ټولنیزه بنسټونو د پرمختیا څانګه:

په دې پروژه کې ددې څانګې له جوړولو څخه موخه دا ده چې د ټولنې په کچه داسې باثباته بنسټونه د ټولنې او د ټولنیزه اقتصاد تحرک او خوځښت په وسیله را منځته شي، ترڅو د کلیوالي تولیدي فعالیتونو له لارې د کلیو اقتصاد پیاوړی شي. د پروژې لپاره به دا نظریه پلي کول چې ټولنه په خوځښت کې راولې ډیر دروند او له ستونزو ډک وي، ترڅو د ولسي تړون پروګرام په دې برخه کې له دې پروګرام سره خپل کوښښونه او مرستې ونه غزوي چې هغه هم د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت یو کلیدي پروګرام دی. په ټوله کې به د پروګرام د اړیکو جوړولو په برخه کې د ولسي تړون پروګرام کار کوي او د هغوی په مرسته او همغږې به دا پروګرام هم د تیر په څیر کلیوالي ټولنو ته د اقتصادي ودې او پرمختیا په موخه داخلیږي.

### ددې څانګې نور فرعي څانګې:

۱،۱ ــ د سپما ګروپونو او د داسې نورو خوشا بنسټونو وده او پرمختیا:

ددې فرعي څانګې له جوړولو څخه موخه دا ده چې په ټوله کې له ټولنیزه اړخه حاشیې ته ټیل وهل شوي او بې وزله ښځې په داخلي توګه بسپنې او د مالي تمویل په موخه په فعالیتونو کې را ښکیل او په خوځښت کې راوستل شي او پخپله وکولای شي چې په ټولنیزه کچه د سپما ګروپونو په توګه بنسټونه اداره کړي او یا دې ته ورته په لوړه کچه نور بنسټونه اداره کولای وشي. لکه د پور او سپما کلیوالي اتحادیې (VSLAs) چې دا مدغم شوي بنسټونه به د ټولنې په کچه د نورو سپما ګروپونو او کوچنیو کلیوالي کاروبارونو یا تولیدي سکتورونو لپاره د کوچنیو پورونو لپاره د تمویلي بنسټونو په توګه کار کوي. ددې

فرعي څانګې په وسیله به پروژه په کلتوري توګه د بې وزله ښځو ترمنځه د پیسو سپما او په داخلي توګه د پورونو راکړې ورکړې ته وده او پراختیا ورکوي او په دې توګه به د دوی ترمنځه د پیاوړو تمویلي بنسټونو یو تګلاره جوړه شي. ترڅو دوی وکولای شي ددې تګلارې په وسیله خپل ځان لپاره په ټولنه کې ټولنیز مصؤنیت پیدا کړي او د مختلفو روغتیایي ستونزو او د اقتصادي کمزوریو پر وړاندې له ټکان څخه ځانونه وژغورلی شي. د لومړي ځل لپاره به د دې هلو ځلو په پایله کې په کلیوالي کچه ښځې د اقتصادي ځواک پیاوړتیا تر لاسه کړي او خپلې هر ډول ستونزې به پخپل لګښت او مالي عایداتو حلولی وشي. دا خو په سپما ګروپونو کې د ښځو په برخې اخیستنې سره تر یوه بریده د اقتصادي ستونزو د حل لار پیدا کول دي چې د پروژې لخوا به پیدا کړل شي. له بل پلوه د پور او سپما کلیوالي اتحادیې به د لویو تمویلي بنسټونو په توګه د دوی سپما ګروپونو لپاره کار کوي، چې د سپما ګروپونو اړیکې په د کلیوالي پراختیایي نماینده ګیو کې د یو مالي بنسټ په توګه پیاوړې کوي چې دا کار به د سپما ګروپونو لپاره بنسټیزه ثبات او دوام د یو مودل په پیدا کړي او په دې ډول به موجوده سپماګروپونوته د مختلفو ارګانونو لخوا وده او پرمختیا ورکړل شي. لکه: عامه ټولنې، د افغانستان د بیا رغونې تمویلي بنسټونه، نړیواله برمختیایي اداره (یو ان ـ هبیتات) او له داسې نورو سره به د تمویل په موخه د ښځنه سپما ګروپونو اړیکو ته پراختیا ورکړل شي. تر کومه ځایه چې شونې وي د پروژې تر پوښښ لاندې سیمه کې به ښځې د WEE-RDP **تر پوښښ لاندې راوستل شی او تر ډېره بریده به کوښښ دا وي چې د دوی اړیکې له دې ټولنیزه تمویلي بنسټ سره جوړې شي. په دې ټوله لاره کې چې د اسانتیاو برابروونکو او یا د ولایتي فرعی ټیم لګښتونه را ځې هغه به د سپما ګروپونو او د دوی د نورو خواره واره بنسټونو په پراختیایي لګښتونو کې داخل کړل شي، چې دا ټول د پروژې د فرعي څانګو تر پوښښ لاندې راځي او دا لګښتونه د هغوی د لګښتونو یوه برخه ګڼل کیږي.**

## ۱,۲ د همدې څانګه بله فرعي څانګه:

د سپما ګروپونو او داسې نورو خواره واره تمویلي بنسټونو د پیاوړتیا لپاره د روزنې څانګه:

دا فرعي څانګه به د بیلا بیلو فعالیتونو د پیاوړتیا لپاره د وړتیاو د لوړولو، د کیفیت د ښه کولو او په دې برخه کې له بیلا بیلو ارګانونو سره مالي مرستې وکړي. په ځانګړي توګه له سپما ګروپونو د پوراو سپما له کلیوالي اتحادیو سره به د مالي راکړو ورکړو په برخو کې مرسته وکړي، ترڅو د دوی راکړې ورکړې وده او پرمختګ وکړي. دا فرعي څانګه به له سپما ګروپونو د پور او سپما له کلیوالي اتحادیو سره د دوی د وړتیاو د لوړولو، حسابدارۍ او د پورونو د راکړې ورکړې د سیستمونو د پیاوړي کولو په برخو کې دوی ته روزنې ورکوي. همدا راز د سپما ګروپونو او د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو او نورو ټولنیزه تمویلي بنسټونو یا ادارو لپاره به د کریډیټ / عایداتو د زیاتیدو لپاره تګلارې جوړوي او په دې برخه کې به میکانیزم ته پراختیا ورکوي. دا میکانیزم او تګلارې به ددې لپاره جوړیږي، ترڅو دوی وکولای شي د حساب کتاب لپاره مالي سواد او پلان جوړول زده کړي. همدا راز په دې روزنو سره به کلیوالې ښځې د مالي ځواکمنتیا ترڅنګ د کاروباري پلان ترتیبول د انفرادي کاروباریانو او تولیدي اتحادیو لپاره د اسنادو ترتیبول هم زده کړي. ترڅو دوی وکولای شي له مالي تمویلي بنسټونو/ بانکونو سره خپلې مستقیمې اړیکې جوړې کړي. چې په دې روزنو سره به له دې وروسته د دوی پیرودونکي او مراجعین هم پیاوړي شي، ټول هغه نورمونه به په سپما ګروپونو او د پور او سپما په کلیوالي اتحادیو د اسنادو ترتیبولو له پلوه منظم شي. په بل عبارت په سپما ګروپونو او د پوراو سپما په کلیوالي اتحادیو کې به ټولې راکړې ورکړې په ډیجټال ډول ترسره کیږي او په دې ترتیب به د همکارو ادارو او مرستندویه ملګرو لپاره هر وخت د هغوی له غوښتنې سره سم ټول اسناد چمتو وي. همدا راز پروژه به په ښه کیفیت سره د کادر په جوړولو پانګونه وکړي، ترڅو هغوی په ټولنه کې د سرچینو د مدیریت اوخوځښت لپاره مناسب اشخاص وي. د ټولنې د مدیریت له پلوه به د کتابدارۍ او د نورو سیمه ییزو کړنو د ترسره کوونکو لپاره به هم پروژه په کادرونو پانګونه وکړي، ترڅو ددې بنسټونو د اړیکو په پیاوړتیا کې له نورو ادارو او مراجعینو سره مرسته وشي، د ټولنې په پراختیایي فعالیتونو کې به د سپما ګروپونو او د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو پراخه اړیکې او فعاله ونډه اخیستنه دا باور پیدا کړي، چې په ټولنه کې د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو او د ټولنې د پراختیایي نماینده ګیو لپاره د ښه حکومتولۍ لپاره حساب ورکول او روښانتیا منځته شوې.

## دوهمه څانګه: مالي سرچینو ته د لاس رسۍ او له تمویلي بنسټونو سره د اړیکو جوړولو څانګه:

دا څانګه به د ټولنې په کچه د اقتصاد د پیاوړتیا په برخه کې اسانتیاوې برابروي او د سپما ګروپونو په شمول به د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو د غړو لپاره داسې مالي خدمتونه وړاندې کړي، تر څو د سترو مالي تمویلي څانګو سره د اړیکو د پیاوړتیا تر څنګ د ډیرو کوچنیو تمویلي سرچینو او سوداګریزه بانکونو سره هم د دوی اړیکې پیاوړې شي. دا څانګه به د ملاتړیزه فعالیتونو تر سیوري لاندې په دواړو برخو لکه د مالي اړتیا د پوره کیدو په برخه کې او همدا راز د مالي تمویل د ترسیل په برخه کې د دوی اړیکې له تمویلي بنسټونو سره جوړ او پیاوړي کړي.

ددې څانګې بله فرعي څانګه: د مقطعي پانګې ورکړه ، ددې لپاره چې د ټولنې په کچه دکاروباریانو تمویل وشي او د ګروپ یا اتحادیې د غړو د کاروبار لپاره د مقطعي پانګې یوه اداره په سیمه ییزه کچه وجود ته راشي.

مقطعي پانګه یا په بل عبارت د اصلي پانګې په اندازه نوره مرسته ( چې د سپما ګروپ او د پور او سپماکلیوالي اتحادیو) ته په متراکم ډول ورکول کیږي. دا پروسه داسې ډیزاین شوې ده چې په دې سره به مالي سرچینې هغو سپما ګروپونو او د پور او سپما اتحادیو ته ورکړل شي چې له شرایطو سره سم بلوغ یا بډاینې ته رسیدلي وي، چې په شرایطو کې د دوی د غوښتنو پر بنسټ د کوچنیو پلانونو د جوړولو په برخه خپل ترمنځه ونډه اخیستنه شامله ده. ترڅو وکولای شي پرته له بدلون څخه خپل مالي بنسټونه جوړ کړي او چارې یې پرمخ یوسي. د تمویل تاریخچه به په کاروباري ډګر کې د دوی سیمه ییز ژوند پیاوړی کړي، دوی به تولیدلپاره شتمنۍ ترلاسه او د اقتصاد پیاوړتیا به یې پیل شي. د یو پرمخوړونکي په توګه به پروژه لومړی خطر یا ګواښ په ځان واخلي ( لکه د پانګوونکي فرښتې) په توګه به په دې بنسټونو باندې د دوی د کوچنیو مالي تمویلي او کاروباري پلانونو پر اساس پانګونه وکړي. چې دا کار به په اوږد مهال کې په دې ټولنیزه تمویلي بنسټونو باندې د مالي تمویلي سرچینو او یا هم د بانکونو په توګه د کاروباریانو باور لا زیات کړي. ددې کار په نتیجه کې به کلیوالي تولیدي بنسټونه په اوږدمهاله توګه نیغ په نیغه د دوی مراجعین شي. دغه مرسته چې مالي تمویلي بنسټونو ته ورکول کیږي دا ټول به د دې مالي تمویلي بنسټونو ملکیت وګرځي او د همدوی لخوا به یې مدیریت کیږي. دوی به له دې مرستې څخه د تل لپاره خپل ترمنځه د توافق شویو اصولو او نورمونو پر اساس کار اخلي. له کومو پروژو سره چې دوی قراردادونه لاسلیکوي، هغوی ته به یې له خپلو اصولو سره د پور په توګه ورکوي. دغه مقطعي پانګه چې سپماګروپونو او یا هم د پور او سپما کلیوالي اتحادیو ته ورکول کیږي، د هغوی له سپما شویو پیسو سره به یوځای کیږي او له هغه وروسته بیا دا هیله پیدا کیدای شي چې دوی پخپلو سیمو کې ډیرو کوچنیو پروژو او کاروبارونو لپاره ورځه د پور په توګه کار واخلي. له همدې امله دا هم شونې ده چې په ټوله کې دوی خپلو غړو ته هم د پورونو په ورکولو کې لا پراختیا راولي.

د دوهمې څانګې په بلې فرعي څانګې کې دوهم فرعي څانګه:
په ابتکاري توګه د مالي مرستو زیاتیدو او خدمتونو په ترڅ کې له مالي تمویلي بنسټونو او سوداګریزه بانکونو سره د ملګرتیاو پر اساس د اړیکو جوړول:

د دې فرعي برخې موخه له کوچنیو تمویلي ادارو او سوداګریزه بانکونو سره کار کول دي، ترڅو د کلیوالو ښوزله ښځو لپاره مالي سرچینو ته د لاسرسی له لارې د لا زیاتو پانګو په ترلاسه کولو کې یو پیاوړی چېریال رامنځته شي. همدا راز پروژه به په دې لټه کې وي، ترڅو له نورو کوچنیو مالي تمویلي بنسټونو او په دې برخه کې د خدمتونو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي، لکه: د کوچنیو پورونو د ورکړې شرکتونه او یا هم مالي تمویلي بنسټونه/ MISFA ، ترڅو وکولای شي چې هغوی د ښځو دې کلیوالي بنسټونو ته د پور په توګه پیسې ورکړي. چې دا پیسې به د پانګونې په توګه په کوچنیو کاروبارونو کې وکارول شي . دا به په ټوله کې د نورو لپاره د مودلونو په توګه وي، چې دوی له مالي تمویلي بنسټونو او سوداګریزه بانکونوسره خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړې ده. له یوې خوا به پخپلو پیسو سره د مالي بنسټونو او بانکونو مالي ملاتړ کوي او له بل پلوه به د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره وکولای شي چې له دې بنسټونو څخه د پور په توګه اضافي

پیسې هم ترلاسه کړي. دوی به په دې مشارکت کې یو بل ته نږدې شي او یو ځانګړی حد به د پیسو د اخیستلو او ورکولو لپاره وټاکي، چې تر سلا شوي بریده پورې به دوی یو له بل سره د مالي تمویل په برخه کې مرسته او ملګرتیا کوي. په دې مشارکت کې به دسپما ښځینه ګروپونه او د پور او سپما ښځینه کلیوالي اتحادې چې د **کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام**/WEE-RDP او داسې نورو لخوا جوړیږي هم برخه اخلي. دا پروژه به د مالي خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه چې د **کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام**/WEE-RDP ته یې ترلاسه کوي، بدیل چینلونه او لارې چارې وڅاري او په دې برخه کې به ډیرې ستراتیژۍ پلي کولو ته وړاندې کړي. سربیره پر دې پروژه به د پور او سپما د کلیوالي اتحادیو او مالي تمویلي بنسټونو لپاره د سوداګریزه اسانچارو او د بانکي اړیکو د جوړونکو په توګه هم کار وکړي. همدا راز دا پروژه به د مالي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د معلوماتي ټکنالوژۍ (IT) مقدماتي پړاو د هم د **کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام**/WEE-RDP لپاره په ټولو پړاوونو کې پلي کولو ته وړاندې کړي، چې په دې کار سره به د مالي تمویلي بنسټونو او بانکونو ترمنځه د پور په توګه د مرستو په راکړه ورکړه کې اسانتیاوې را منځته شي او په دې برخه کې به د (ام پیسه) له لارې اصولي خدمتونه د تولیداتو د پرمختیا او نورو خدمتونو ترلاسه کولو په موخه له ملګرو بانکونو او مالي تمویلي سرچینو سره په پام کې وساتي. همدا راز په شرعي اصولو سره به د کلیوالي تولیداتو د ډیریدو او هغو ته د بازار موندنې په برخو کې هم خپلو هلو ځلو ته لا پراختیا ورکړي. په دې برخه کې به د **کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام**/WEE-RDP تر چتر لاندې ټولو سپما ګروپونو، د پور او سپما کلیوالي اتحادیو، تولیدي ګروپونو، تولیدي اتحادیو او کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ته په نوبتي ډول په مختلفو برخو کې روزنې ورکړي. چې په دې روزنو سره به د دوی وړتیاوې لوړې شي او د کوچنیو پورونو یا تمویلي بنسټونو لپاره به د ښه خدمتونو د ترسره کولو په برخوکې له نورو بنسټونو څخه روزنیزه لیدنې چمتو کړي چې د دوی بانکې کارکوونکي به په یوځایي سره د کارونو د زده کړې په موخه له نورو بانکي ادارو سره د کارکولو لنډ مهاله فرصتونه ترلاسه کړي. لیکن دا په هغه شرط چې د دوی مشارکت په مالي چارو کې څومره ژورتیا لري. چې البته دا به د افغانستان بانک مالي امکاناتو ته په پاملرنې له کلیوالي ښځو سره ترسره کیږي، چې هغوی ددې خدمتونو د وړاندې کولو لپاره څه ډول شرایط لري. دا کوښښ به هم جاري وي چې په لویه کچه د کنټرول یوه کمېټه د **کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام**/WEE-RDP لپاره تشکیل شي. تر څو له خلکو سره په خصوصي سکتور کې د بانک په توګه کار وکړي او وکولای شي چې د رسمي **بانکونو او کوچنیو مالي سرچینو ته د ښځو د لاسرسي پر وړاندې په بیلا بیلو کلیوالي سیمو کې هرډول اداري خنډونه مشخص او له منځه یوسي.**

**دپروژې دریمه برخه: د تخنیکو مرستو وړاندې کول او مارکیټونو ته لاس رسی پیاوړي کول:**

**ددې پروژې دوه لومړنۍ برخې ډیرې پراخې دي او کولای شي چې د کلي په کچه ټولې کورنۍ یا د کورنیو غړي پکې داخل او په خوځښت کې راشي او د سپما ګروپونو په تشکیلاتو سره د پروژې له پورتنیو ځانګو څخه ګټه پورته کړي. د دې کلیوالي میرمنو یا د کورنیو د نورو غړو او د هغو خلکو چې په خوشا ډول عایداتي فعالیتونه لري او یا هم د عایداتو په ځنزیریزه لړۍ کې ښکیل دي، د هغوی د اقتصادي ودې لپاره اړینه ده چې دپروژې د دې برخې تر سیوري لاندې کلیوالي میرمنو او نورو متشبثینو ته پکار دي چې پخپلو تولیدي او مارکیټ/ بازار ته د لاس رسیو د پیاوړتیا په برخو کې د پروژې له دې ځانګې څخه د تخنیکي مرستو غوښتنه وکړي. دپروژې دا برخه د پروژې لپاره دا اسانتیاوې برابروي چې له مختلفو تخنیکي ملګرو، خصوصي سکتورونو او د ټولنې په کچه له کارپوهانو سره ددې لپاره کار وکړي، ترڅو هغوی کلیوالو میرمنو ته د کلیدي تخنیکي مرستو او مارکیټونو ته د لاس رسیو په برخو کې خپل خدمتونه وړاندې کړي او دا کلیوالي میرمنې وکولای شي چې په مارکیټ کې د خپلو تولیداتو د لیږد سیستم رهبري کړي او په لویه کچه اقتصادي فرصتونه ترلاسه کړي.**

**د پروژې دا برخه به په لاندې مواردو کې خپل تخنیکي او روزنیزه مرستې کلیوالو میرمنو ته وړاندې کوي:**

**دپروژې د دریمې برخې (۱) فرعي ځانګه: د صنعتي ګروپونو (EGs) او د تولیدي ټولنو(PAs) وده او پرمختیا:**

**ددې فرعي څانګې له جوړولو څخه موخه د کليوالي صنعتلرونکو ميرمنو او توليدوونکو عايداتي پوهه پياوړي کول او په مارکيټ کې د غوښتنې پر بنسټ د دوی توليدات ځاى پر ځاى کول دي، سربيره پر دې بازار/ مارکيټ ته د دوی لاس رسی پيدا کول دي، چې د لاس رسيو په برخه کې دوی ته بايد تخنيکي روزنې او پوهه ورکړل شي. ترڅو مارکيټ ته د لاس رسيو په برخه کې ددوی لومړنې مهارتونه پياوړي شي او داسې يوه تګلارې وکاروي چې د هغو په مهارت سره پخپلو توليداتو کې لګښت راټيټ او د خپلو توليداتو د توليد او پلورنې کچه لوړه کړي. مختلفو ځيړنو لکه ولايتي اقتصاد شننې دا جوته کړې، چې په دې برخه کې د توليداتو ارزښتناکه تسلسل، د مارکيټ ارزونه، د ګډو پانګونو فرصتونه او داسې نور کولاى شي په دې برخه کې د کليوالي توليدي ميرمنو لارښوونه وکړي، چې د پانګونې لپاره د اسانتياو د پروسس او يا هم د کوچني پلان جوړونې د پروسې په وسيله د پانګونې تصميم لري. په دې برخه کې به د توليدي اتحاديو/ POs او توليدي ګروپونوEGs غړي د ټولنې د پرمختيايي شورا په کچه د عامه فعاليتونو په مناسبت يو تر بله منظم کړل شي يا دا چې د عامه توليداتي توکو د جوړولو باندې د تمرکز په موخه سره را ټول کړل شي ترڅو دوی په لويه کچه د محصولاتو د پروسس او يا هم د توليد په برخه کې د پانګونې په اړه خپل فکرونه متمرکز کړي لکه د سبزيجاتو د پروسس، د ګلونو د کرنې او بڼ جوړونې، د شيدو د پروسس، د چرګانو د فارمونو، پسونو د پالنې، د کبانو د فارمونو، د بزو/ چيلود ساتنې، غاليو اوبدلو، د شاتو د پروسس، د لاسي ګنډونو او په داسې نورو سکتورونو کې د پانګونې په موخه خپل نظريات شريک او فکرونه متمرکز کړي. دپروژې د دريمې برخې دا فرعي څانګه به په داخلي توګه د لاسته راوړنو، ټکنالوژيو، د کاروبار د پراختياو، د هوا د حالاتو، مارکيټ د لاس رسيو د اسانتياو او د فرصتونو د پيدا کولو په برخو کې د خپلو توليدي اتحاديو او کاروباري غړو لپاره د کاروبارونو / تشبثاتو د مديريت په مناسبت سلا مشورې وړاندې کوي.**

**د پروژې د دريمې برخې (۲) فرعي څانګه: په تخنيکي برخه کې له عامه او خصوصي سکتورونو سره ملګرتيا:**

دا موخه چې بايد د مختلفو عامه ابتکاراتولپاره په خصوصي سکتور کې د ( کوچنيو او منځنيو کاروبارونو/ صنعتونو، عامه کاروبارونه او سهامي شرکتونه د نوښتونو لپاره په خوځښت کې راوستل شي. چې په دې نوښتونو سره دوی وکولاى شي په عمودي توګه کوچني توليدي او يا هم سيمه ييزه متشبثين او صنعتلرونکې له خصوصي پانګونې سره په داخلي راکړې ورکړې يا ليږد را ليږد سره په ګردش يا څرخيدا کې راولي، د دوی لاس رسی نويو ټکنالوژيو او د محصولاتو له ترلاسه کولو څخه دمخه په اضافي توګه ابتکاراتو ته پيدا شي په شمول د ټولو کرنيزه محصولاتو د پروسس کولو، چې په دې توګه به د کليوالو ميرمنو لپاره مختلف کاروبارونه/ تشبثات په خوشا ډول د رسمي / غير رسمي او نيمه رسيمي سکتورونو کې جوړ او هغو ته پرمختيا ورکړي. همدا راز دا کار به د صنعتي ګروپونو، ولايتي توليدي اتحاديو، کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ترمنځه په ولايتي، ملي او نړيواله کچه په سوداګريزه اړيکو کې پراختيا راولي. سربيره پر دې د ټولنې په کچه به دا کار پخواني اړيکې بيا را تازه او پياوړي کړي، له دې سره په خوا کې د ډيرو مختلفو توليداتو/ وسايلو پر بنسټ د مارکيټونو ارزونه وشي چې څه ډول توليدات يا وسايل کوم مارکيټ ته وليږدول شي په دې اړه به ځيړنيزه مطالعې ترسره شي ترڅو دا مشخص شي چې د کليوالي ميرمنو د عايداتو د زياتيدو لپاره په ارزښتناکه ځنزيريزه تسلسل کې کوم فرصتونه ډير ګټور تماميږي ترڅو په هماغو باندې ددې فرعي څانګې له فعاليتونو سره پانګونه وشي. د کليوالي ميرمنو د اقتصادي ځواکمنتيا WEE-NPP د يوې برخې په توګه به په سيستماتيک ډول کوښښونه جاري وي څو د دوی د ګډو موخو او د اړيکو د جوړولو لپاره به د دوی او اړيکې د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ له وزارت او په دې سکتور کې د ورته فعاليونو لپاره نورو وزارتونو/ ډيپارټمنټونو سره اړيکې ټينګې شي ترڅو د کليوالي ميرمنو توليدي فعاليتونو ته وده او پرمختيا ورکړل شي. په همدې مناسبت به دوی ته د بزګرانو لپاره د کروندې اود نورو برخو د تجربو لپاره په سيمه ييز ه ښوونځي پرانستل شي، چې هغوی به په لومړي خط کې هم کليوالي ميرمنو ته د خپلو فعاليتونو څرګنددونه کوي او داسې نور خدمتونه به وړاندې کوي.

د پروژې ۴ مه برخه: د پروژې د پلي کولواو تنظيماتو په شمول د پروژې په اړه د پوهيدو مديريت:

د دې برخې لاندې به پروژه خپلو ټولو کارکوونکو، همکاره نماينده ګيو، د پروګرامونو وړاندې کوونکو او روزونکو ته تنخواوې ورکوي، دفتري وسايل به رانيسي او د اجرايوي لګښتونو له پلوه چې کوم زياتوالی د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت په دفاترو او ولايتي څانګو کې راځي

هغه به تأدیه کوي.  همدا راز د پروژې دا څانګه به د پروژې د همغږۍ، پلي کولو او څارنې په برخو کې په ملي، زونیز  او ولایتي کچه له پلي کوونکو څخه خپل ملاتړ کوي،  د پروژې لپاره  د زده کړې، ارزونې، د معلوماتي ټکنالوژۍ، مالي مدیریت، تدارکاتو، بشري منابعو، له پروژې څخه د پوهاوی او د اړیکو د پیاوړي کولو  تر څنګ د ټولنې او چاپیریال ساتنې د مدیریت لپاره  سیستمونه چمتو کوي. چې په دې سیستمونو کې به دوی د شکایاتو د حل  میکانیزم هم  وړاندې کوي.  پروژه به د موجوده پروژو اساس  چې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت په تشکیلاتو کې داخل دي،  له نورو  مختلفو پروژو  سره د تدارکاتو، مالي مدیریت او د امکان تر بریده د دریمې څارونکې ډلې د څارنې په موخه له وزارت سره په (CC) کې وي، ترڅو د پروژې مدیریت تر څنګ د ټولو  کارونو د ترسره کولو لپاره اسانتیاوې  را منځته شي.  همدا راز دا څانګه به په ټوله کې د پروژې د ښه پلي کولو لپاره د تیروتنو، لارښوونو، څارنو او په سیمه کې د پروژې د پلي کولو په هر برخه کې مرستې کوي.  سربیره پر دې د پروژې په لیکه کې چې کوم مختلف وزارتونه راځي، له هغو سره به د پروژې همغږي برابروي، د اداري او بشري منابعو په کړنو کې به هم  خپلې مرستې نسپموي.

د دې څانګې ملاتړ چې په نورو کومو مواردو کې ترسره کیږي،  هغه په لاندې ډول دي لکه:

- د پلي کولو او پالیسۍ جوړولو په برخو کې د معلوماتو لپاره د تخنیکي مرستو ترسره کول،  او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ځینو ادارو/ مدیریتونو او یونټونو وړتیاوې په پیاوړي کولو کې مرسته کول ترڅو هغوی وکولای شي خپل کاري مسیر ټینګ او دا باوري کړي چې د پروګرام د پای ته رسیدو د ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه خپل کارکوونکي استخدام کړای شي.
- د هندوستان او پاکستان هیوادونو له ځینو پروژو لکه د بِهار ایالت او په پاکستان کې د PPAF له پروژو سره د تخنیکې چارو د زده کړو  لپاره د اړیکو او ملګرتیاو په برخو کې مرستې کول ترڅو له هغوسره سلا مشورې وشي.
- په ټوله کې د روزنې او کار کوونکو او یا د ټولنې په کچه د مسلکي خلکو د وړتیاو په  جوړولو، تشخیص او د CRPs ته ښکلا او پراختیا ورکولو او له سیمې څخه د روزنیزه زده کړو په موخه علمي لیدنو، د معلوماتو او تجربو د تبادلې او داسې نورو  برخو کې له پروژې سره لاس ورکول.  چې دا به هم ددې ملاتړیزې برخې له مرستو څخه وي.
- له پورتنیو مرستو سربیره د څارنې او ارزونې، معلوماتي ټکنالوژۍ، تدارکاتو د مالي چارو د مدیریت، د اړیکو او له پروژې څخه د پوهاوی په برخو کې به هم یاده څانګه خپلې مرستې ترسره کوي.

## ۵. د پروژې ساحه/ کاري سیمه:

د میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام چې د  WEE-RDP په نامه سره یادیږي، په  ملي کچه د لومړیتوبونو په پروګرامونو  یا (WEE-NPP  )کې راځي ، چې  د همدې (WEE-NPP  ) تر سیوري لاندې د میرمنو د اقتصادي  پیاوړتیا – کلیوالي تولیداتو د پرمختیا لپاره یواځنی پروګرام دی، چې  یو ستر اقدام ګڼل کیږي . دا پروګرام له خپل اساس سره  په ټولنه کې  له (شپږو  هغو پرمختیایي ستنو)څخه  څلور تر خپل پوښښ لاندې راولي، چې د میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره په ملي کچه د لومړتوبونو په پروګرامونو/  (WEE-NPP  )کې د دولت لخوا په پام کې نیول شوي.  د WEE-RDP تر عنوان لاندې چې کوم پروګرام  ډیزاین شوی، هغه  د خپلو بریالو تولیدي پروګرامونو پر اساس ډیزاین شوی،  چې د افغانستان د کلیوالي صنعتونو د پرمختیا ملي پروګرام (AREDP) د دې نوي پروګرام  له پیل څخه څه موده مخکې پای ته ورسیده.   د تیر بریالي پروګرام له زده کړو سربیره په دې پروګرام کې به ځینې زده کړې له داسې ورته پروګرامونو څخه هم را اخیستل کیږي، چې په جنوب اسیایي هیوادونو کې پلي شوي. له دې پروګرام څخه په افغانستان کې د یو ملي پروګرام هیله کیږي، چې دا WEE-RDP به د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې لږ تر لږه په هر ولایت کې دوه ولسوالۍ  پخپلې راتلونکي (پنځه کلنه) دوره کې تر خپل پوښښ لاندې راولي او دا هم طمعه ده  چې  پنځ لاکه / (۵۰۰،۰۰۰)کورنۍ له ۵۰۰۰ کلیوالي پرمختیایي شوراګانو/ (CDCs) څخه تر خپل پوښښ لاندې راولي چې نږدې (۴۰،۰۰۰) ښځینه سپما ګروپونه به د ۳۴ ولایتونو په  اویا / (۷۰) ولسوالیو کې جوړوي.

۶.  ESMF / (د ټولنیزو چارو او چېریال داداري لپاره کاري چوکاټ) لپاره اړتیا:

ددې لپاره چې د نړیوال بانک د خوندي ساتنې پالیسۍ په ټولو ورو یا فرعي پروژو کې پلي کولو ته ورانديږ شي، نو موږ نشو کولای چې د ټولې کوچنۍ یا فرعي پروژې د ارزونې له لارې مشخص کړو. له همدې امله د ټولنې او چېریال ساتنې لپاره مو یو کاري چوکاټ ترتیب کړی چې د (ټولنې او چېریال ساتنې د کاري چوکاټ په نامه یادیږي. ددې کاري چوکاټ غوښتنه دا ده ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې دټولنې او چېریال ساتنې له پلوه پروګرامونه په داسې ډول پلي کولو ته وړاندې شي ترڅو د پلي کولو پر مهال ټولنه او چاپیریال له منفي تأثیراتو مخنیوی کیږي او یا هم که چېرتهپيښ شي نو هغو ته کمښت ورکړل شي او یا دا چې که دا کوچنۍ پروژې په سیمه کې وړاندې کیږي نو د پلي کولو پر مهال په ډیره ټیټه کچه ټولنې او چاپیریال ته پکې زیان ورسیږي. د ټولنې او چېریال ساتنې دا کاري چوکاټ به د پروژې د پلي کولو پر مهال په پام کې نیول کیږي لکه څنګه چې د AREDP د پلي کولو پر مهال هم په پام کې نیول شوې وه . د ESMF لپاره قانوني اسناد ترتیب شوی چې د پلي کولو لپاره یې د WEE-RDP د پلي کولوپرمهال یې د لګښت لپاره مالي تړون هم له تمویلونکو بنسټونو سره شوی.

۷. ESMF شالید او موخې:

د ټولنې او چېریال د حفاظتي تدابیرو د مدیریت کاري (**ESMF**) چوکاټ به خپل تګلاره روښانه کړي. چې د میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا – د کلیوالي تولیداتو دپرمختیا پروګرام/ (WEE-RDP) ته یې د پلی کولو لپاره اجازه ورکړ شوی، ترڅو په ټولنه او چېریال کې د صنعتي فعالیتونوکې د ټولنې او چېریال ضد ناسازو او بدو اثراتو ته په تدریجي ډول کمښت ورکړل شي چې په پای کې به د میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره په کاروبارونو/ تشبثاتو او صنعتونو کې د ټولنې او چېریال ساتنې له پلوه هر ډول ستونزې له منځه ولاړې شي چې په دې برخه کې د ESMF موخې په لاندې ډول بیا نیږي:

- د ټولو فرعي پروژو په اړه په ټولنه او چېریال کې د ضد نقیضو پېټو اثراتو په ټاکنه/ ښودنه کې مرسته کول.
- د منفي اثراتو د معلوملو په اړه تدابیر نیول دي، چې په مؤثر ډول د منفي اثراتو ښودنه وشي او بیا یې د لمنځه وړلو په تدابیرو کې مرسته کول.
- په دې اړه د ځانګړو مقرراتو او مسؤلیتونو په وټاکلو مرسته، ترڅو په ټولنې او چېریال کې د ټولو پروژو له مدیریت سره د تړاو لرونکو منفي لاملونو څارنه او نظارت وشي او په اړه یې د بشپړ راپور لنډیز چمتو شي.
- روزنې او تخنیکي مرستې په پام کې نیول، ترڅو په ټولنه کې د ESMF د پلي کولو لپاره زمینه برابره شي؛ او
- هغه بودیجه چې د پروګرام لخوا د ESMF د پلي کولو لپاره ورکول کیږي، ددې له غوښتنو سره سم په مناسبو ځایونو کې په سمه توګه مصرف ته په رسولو کې مرسته کول.

د ټولنې او چاپیریال د خوندي ساتنې د تدابیرو لپاره د چې کوم چوکاټ یا فریم ورک ESMF جوړ شوی موخه یې ډاډ ترلاسه کول دي چې په ټولنیزه صنعتونو/ تشبثاتو، کوچنیو او منځنیو کاروبارونو په داخل کې پلي کیدوته وړاندې شي او د پروګرام لخوایې ملاتړ وشي ، څکه چې د ESMF تګلاره د افغانستان له اساسي قانون او مقرراتو سره برابره ده، همدا راز د نړیوال بانک له پالیسیو سره هم سمون لری، دESMFs پلي کول د ټولنې او چېریال د خوندي ساتنې په موخه پلي کول څکه لازمي دي چې د نړیوال بانک د پالیسیو اود اساسي قانون لمخې د ټولنې او چېریال د خوندي ساتنې لپاره ټول اړین اقدامات ترسره شي:

د ESMF کاري چوکاټ په بشپړ ډول د نړیوال بانک د ترتیب شوي (اجرایوي لارښود) څخه چمتو شوی، چې د ټولنې او چاپیریال ساتنې له ټاکل شویو اجرایوي پالیسیو سره نیغ په نیغه تړاو لري. په دې اړه کولای شئ ;([OP 4.01](OP 4.01)) مخه وکړئ، چېرتهچې په اساسي ډول د ټولنې او چاپیریال ساتنې د مدیریت پر وړاندې د را ولاړ شویو ستونزو د حل لپاره ځانګړې مراجع په ګوته او لارښوونې شوې. د نړیوال بانک لخوا چې نورې کومې اجرایوي پالیسۍ ترتیب شوې؛ لکه: ساتندویه تګلارې او داسې نور... کومې چې د (WEE-RDP) له پروګرام سره سمون نخوري، هغه به په دې پروژې کې پلي کولو ته نه وړاندې کیږي.

۸. د چېریال ساتنې پالیسۍ او قانوني مقررات

د WEERDP پروګرام چې د ESMF له پاملرنې سره د نړیوال بانک پالیسۍ په لاندې ډول پلي کولو ته وړاندې کوي.

| # | د نړیوال بانک پالیسي | پلي شوي (هو / نه) |
|---|---|---|
| ۱. | د چاپیریال ساتنې د مدیریت (OP 4.01) اجرایوي پلان پلي شوی؟ | هو |
| ۲ | **د طبیعی استوګنځیو (OP 4.04)/ اجرایوي پلان په کار اچول شوی؟** | نه |
| ۳ | د کمزوي اداری د مخنوي(OP 4.09) اجرایوي پلان په کاراچول شوی؟ | هو |
| ۴ | **په طبیعي ډول د خلکو د استوګنې(OP 4.10) په اړه اجرایوي پلان پلي شوی.** | نه |
| ۵ | د فیزیکي او طبیعی زیرمو (OP 4.11) عملیاتي پلان پلي شوی؟ | نه |
| ٦ | **په یو ځای کې په غیر ارادي ډول د بیا استوګنې(OP 4.12) پلان پلي شوی؟** | نه |

د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام داسې یو پروګرام دی، چې د چاپیریال د ککړتیا لپاره په لویه پیمانه بد اغیز / تأثیرات په سیمه کې نه پیدا کوي؛ ترڅو د(الف/A) درجه پروګرامونو کې ونیول شي. لیکن بیا هم په هر صورت کوم متوقع اقدامات چې په دې لاره کې اخیستلي کیږي هغه به ډیر واړه وي، چې د پروګرام د فرعي پروژو له پلي کیدو سره سم کوم ککړتیاوې په سیمه کې پیدا کیږي. د هغو پر وړاندې به ترسره کیږي، چې په همدې کچه د اقداماتو ملاتړ به د چېریال ساتنې په موخه د پروژې د اړوندې ځانګې لخوا ترسره شي. په دې اړه (د کلیوالي سکتور او کاروبارونو/ تشبثاتو جدول په ۱۳ مخ کې مطالعه کولای شئ)، تر ډیره بریده هغه منفي تأثیرات چې په احتمالي توګه ورته ( هو) ویلی شو، د بیلګې په توګه هغه د څرمنو د جوړولو پروسس ګڼل کیږي؛ چې دنه پاملرنې په صورت کې امکان لري کرنیزه فصلونو یا کښتونو ته زیان واړوي. چې له همدې امله د چاپیریال د ککړتیا له پلوه دا کار کیدای شي یاد پروګرام تر (ب) درجې لوړ کړي. لیکن (الف) درجې ته يې نه رسوي.

د نړیوال بانک د چاپیریال ساتنې په موخه حفاظتي تدابیر شا خوا په هغو سیمو کې پلي کیدو ته وړاندې کیږي چې د کومو لپاره چې پالیسۍ جوړې شوي، ترڅو داډ ترلاسه شي چې دا جوړ شوي نوښتونه یا ابتکارت خلکو او ځمکې ته د ټولنې او چاپیریال ساتنې د حالت له پلوه بد اغیز کوي او که نه چېرتهچې د پروژې کړنې پلي کیدو ته وړاندې کیږي. هسې هم داسې نه بریښي چې د (WEE-RDP) پروګرام دې په عمده توګه ټولنه اوچاپیریال اغیزمن کړي او د درجه بندۍ له پلوه له همدې امله د نړیوال بانک لخوا د ټولنې او چاپېریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو له پلوه له اړتیا سره سم په دوهمه درجه کې نیول کیږي له همدې امله د چاپیریال ساتنې په هکله د ارزونې په پالیسۍ او د کمزورې مدیریت په برخه کې د نړیوال بانک دغه دوه مادې چې د OP/BP 4.01 او OP/BP 4.09 سره یادیږي په ټاکل شویو فعالیتونو کې د (WEE-RDP) په لومړۍ او دریمه ځانګه کې د پلي کیدو په موخه وړاندې کړل شي. له کومو څخه چې هیله کیږي چې په بالقوه توګه د چېریال ساتنې په برخه کې به ککړتیا ته کمښت ورکړي اودا هم شونې ده چې ددې مادو په پلي کولو سره په پای کې د چېریال ساتنې له پلوه په تولیدي فعالیتونو کې ککړتیا ته د پای ټکی کیښودل شي.

۸,۱ OP/BP 4.01 د چاپیریال ساتنې ارزونه:

هغه مهال به د چېریال ساتنې اروزنه په لار واچول شي، کله چې د WEE-RDP پروګرام په پلان شوې تګلارې سره د یو ملي پروګرام په توګه د هیواد په کچه په اوږد مهال بڼه پلي کولو ته وړاندې کړل شي چې د پلي کولو لپاره یې د پالیسو او پلان جوړولو وسایلو ته د و زارت په کچه اړتیا لیدل کیږي. له همدې امله به د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت او نړیوال بانک په ستراتیژیکه توګه د چاپیریال ساتنې د ارزونې په موخه یو کمیسون وټاکي، ترڅو د کلیوالي اقتصاد د پرمختیا په برخه کې د فرعي سکتور ارزونه وکړي او دا معلومات ترلاسه کړي چې هغوی پخپلو اړوندو پالیسو پلانونو او د (MRRD) د پروګرامونو په کچه د چاپیریال ساتنې موضوع په پام کې نیولې او که نه.

۸,۲ د مصیبتونو/ افتونو مدیریت OP/BP 4.09

د افتونو مدیریت به هغه مهال د پورتني مادې پر اساس په جدي توګه په لار واچول شي کله چې د WEE-RDP په تولید ي برخو کې تولیدي فعالیتونو ته وده او پرمختیا ورکړل شي، دا بیا د WEE-RDP په پروګرام پورې تړلې ده چې په دې مناسبت لړ ترلږه دا وړتیا پیدا کړي ترڅو د افتونو د مدیریت په برخه کې د چاپیریال د ککړتیا مخه پخپلو تولیدي برخو کې ونیسي، په همدې مناسبت د افتونو د مدیریت لپاره چې په ښه توګه د WEE-RDP په تولیدي سکتور کې د افتونو او مصیبتونو مدیریت ترسره شي د یو جامع پلان جوړولو ته اړتیا لیدل کیږي. ترڅو د پلان له مخې ددې افتونو مدیریت او یا کنټرول په سمه توګه وشي. د افتونو مدیریت ته باید داسې لارې چارې وکتل شي ترڅو په کرنیزه سکتور کې چې WEE-RDP په تشبثاتو کې کوم ډول کرینزه ستکورونه پرمخوړل کیږي ددې پلان په پلي کولو سره په هغو کې دوام او ثبات پیدا شي. د پلان له مخې به د کرنې په برخه کې هغه تشبثاتو ته ځینې تجربې وړاندې شي لکه: ( د رشقې د کرنې او د هغه د ساتلو په برخه کې چې څنګه ساتل کیږي او همدا راز په کرنیزه فارمونو کې د اوبود مدیریت په برخه کې ځینې لازمې تجربې شریکې کړل شي) همدا راز د بیالوژي کې پیښو په صورت کې چې په هغو کې ( بزګران د حشراتو او نورو زیان رسوونکو ژوو د وژنې په لار کې د بیا لوژیکي کنټرول له مخې د کښت لپاره دښمن حشرات وژني او یا یې د کنټرول لپاره د کیمیاوي داروګانو په کاروې کې ښکیلیږي ( یا په بل عبارت د حشراتو په مبدأ باندې د کیمیاوي موادو په کارونې کې ښکیلیږي او په بالقوه توګه یې د کیمیاوي درملو په کارونې سره لمنځه وړي. د WEE-RDP پروژه به د افتونو د مدیریت لپاره یو جامع پالسي خپلوي ترڅو وکولای شي پخپل کرنیز سکتور کې د د اقتونو د لمنځه وړلو لپاره د طرحې او داروګانو د د ټاکنې تطبیق تصمیم پخپله نیولی وشي او د افتونو د مدیریت په برخه کې د تجربو د کارولو ارزونه وکړي. له بل پلوه د WEE-RDP پروژه به د کرنې اوبو لګولو او مالداری له وزارت او د NHLP له ادارې سره د ګډو مرستو د ترلاسه کولو لپاره همغږي وکړي، ترڅو هغوی د افتونو د مدیریت اوکنټرول په برخه کې د WEE-RDP له هغو ټاکل شویو تشبثاتو سره د پلان جوړولو او پلي کولو په برخه کې مرسته وکړي چې په کرنیز ستکورونو کې فعالیتونه لري.

## ۸,۲ د بیرته را ستندونکو غیر ارادي ځای پر ځای کیدنه:

په دې برخ کې د نړیوال بانک اجرایوي پالسۍ به د بیرته را ستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو په اړه تر هغې په لار نه اچول کیږي تر کومه چې له پروژې سره د بیرته را ستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره ځمکه په واک کې نه وي ورکړل شوې. احیاناً که بیا هم کومه ځمکه د پروژې په اختیار کې په همدې مناسبت ورکړل شي نو بیا د ځمکې د ترلاسه کولو لپاره د پیردونې او پلورنې تدارکاتي پروسه به له دولتي تدارکاتي پروسې سره ترسره کیږي، همدا راز که چیرتهپه ټولنه کې د فرعي پروژو د پلي کولو لپاره په سیمه ییزه کچه ځمکه ورکول کیږي نو د ځای پر ځای کیدونکو د شمیر ته اړتیا ده او یا دا چې د ځمکې د خرابیدو په صورت کې به د هغه د تاوان یا جبران ورکول لازمي ګڼل کیږي چې باید له شخړې پاک وي او ورکړې څخه یې انکار ونشي. البته په ښه توګه د پیرودنې او د پلورنې له مفکورې څخه معنی دا ده چې د پلورونکي او پیرودونکي ترمنځه د ځمکې ټوله راکړه ورکړه په احسن ډول ترسره شي . په دې اړه هغه دقیق مقررات او اصول چې د ځمکو د راکړې ورکړې په اړه ټاکل شوي د پلي کولو لپاره په پام کې ونیول شي او د ځمکې د راکړې ورکړې له پروسس څخه دا موخه چې دواړه لوري

هم پلورونکی او پېرودونکی په مساوي/ برابره اندازه د څمکو په راکړه ورکړه کې د مارکیټ پر بنسټ ښکیل وي یعنې د څمکو د راکړې ورکړې په اړه د مارکیټ له بیو/ قیمتونو څخه خبر وي.

# کلیوالي سکتورونه او صنعتونه

## د ارزښتونو لړۍ

| سکتورونه | د BDS ځواکمنتیا او مالي لګښت | مارکیټ پیدا کول او پرچون پلورنه | د لیږد را انتقالاتو لپاره ترانسپورت او ویش | د توکو چمتوکولو پروسه او کارتن کول یا بسته بندي | د شاړو ځمکو اداره او مدیریت | ماشین آلات او توکي | د اوبو او برېښنا ترسیل/ لیږد |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کرنه او خوراکي توکي | • وا ټن په (میل)<br>• په عمومي توګه د سوداګرۍ د پرمختیا خدمات<br>• د کوچنیو پورنو سرچینې؛<br>سوداګریز بانک;<br>• د تصدیقنامو کړنلاره; | • له عمده څخه پرچون کول;<br>• د مارکیټ څخه معلومات اخیستل;<br>• د ارزښتونو د لړې تحلیل کول;<br>• نړیوال مارکیټ ; | • فصل ته د داخلیدودروازه<br>• FG به مهم ټکي را ټول کړي;<br>• عمده پلورونکي ته ټولونه;<br>• عمده پلورل; | • وچه ول ;<br>• غوبلول ;<br>• با دول;<br>• ژرنده کول ;<br>• بار جامه کول / کارتن کول;<br>• بسته بندي | • د غلې انبارول;<br>• ګودامونه;<br>• زیرمتون;<br>• څړ ځایونه ;<br>• زیم ایستنه<br>• د وچو وښو سنبالښت; | • یوې / قلبه کول ;<br>• تخم شیند ل ;<br>• کرهني ته برابرول;<br>• درمند کول;<br>• کوران او خسمانه ;<br>• پخه ول ; | • ځمکه;<br>• تخم;<br>• قد رتي افات;<br>• سرې / پارو;<br>• اوبه لګول; |
| مالداري او لبنیات | • د وا ټن فاصله په (میل)<br>• په عمومي توګه د سوداګرۍ د پرمختیا خدمات<br>• د کوچنیو پورنو سرچینې;<br>• سودګریز بانک;<br>• د تصدیقنامو کړنلاره; | • دما رکیټ معلومات ترلاسه کول;<br>• د ارزښتونو د لړې تحلیل کول;<br>• د پرچون توکو تولول'<br>• نړیوا ل مارکیټ; | • مسلخ ته په بوتلو کې تم کیدل/نه ورتګ;<br>• د FG عمده پلورل ;<br>• له عمده څخه پرچون ته چمتو کول ; | • حلا لول;<br>• قصابي ;<br>• هډوکي او څرمنې;<br>• یو ډول کول/ ورته والې ورکول<br>• پنیر او ماسته | • ودانۍ/غوجل ځایونه;<br>• د څارویو شتون;<br>• څړ ځایونه;<br>• ډیراني سره ;<br>• د سرو غوندول;<br>• هډوکي او څرمنې; | • دوي ته اوبه ورکول;<br>• واښه اچول;<br>• د خرابیو له منځه وړل<br>• او جدا کول;<br>• تاوده ول/ ګرمول;<br>• ودانۍ; | • څوان څاروي;<br>• د خوراک لپاره واښه;<br>• انتیبایوتیک;<br>• د اوبو تنظیم او اداره;<br>• تاوده ول/ ګرمول;<br>• ود ا نۍ; |
| د کرهنې پوه او مرباګانې جوړول | • د وا ټن فاصله په (میل)<br>• په عمومي توګه د سوداګرۍ د پرمختیا خدمات<br>• د کوچنیو پورنو سرچینې;<br>• سودګریز بانک;<br>• د تصدیقنامو کړنلاره; | • د وچو توکو لپاره د بارجامې نښه;<br>• د تازه توکو لپاره د بار جامې نښه;<br>• مناسبه سوداګري; | • د FGبه توکوعمده پلورل چمتو کوي ;<br>• د FGبه پرچون پلور هم کوې; | • وچه ول ;<br>• د نچوړولو لار ښوونه;<br>• درجه بندي کول;<br>• بار جامه کول/کارتن بندي;<br>• مایع مواد په بوتل کې په خاې کول; | • ګودامونه ;<br>• **زیرمتونه**;<br>• تا خونه / اخورونه;<br>• څړ ځایونه; | • تعقیمول/ نه کرهنه ;<br>• نیا لول/په لوښوکې کرهنه<br>• اوبه لګول ;<br>• درمند کول او غله ځاې پر خاې کول؛ | • زمکه;<br>• تخم / او د تخم ریښې;<br>• قدرتي افات;<br>• سرې / پارو;<br>• اوبه لګول;<br>سمسورتیا او ګلبڼ; |
| لاسي صنعتونه | • تخنیکي روزنه ;<br>• په عمومي توګه د سوداګرۍ د پرمختیا خدمات<br>• د کوچنیو پوررونو سرچینې;<br>• سوداګریز بانک; | • د پرچون ما ل ګودام;<br>• ډیزاین یا تنظیم;<br>• نړیوال مارکیټ;<br>• نړیواله مناسبه سوداګري; | • د پلو رنځي تر دروازې رسول;<br>• د پرچون پلورلو ته را غونډول; | • په سانچه کې اچول;<br>• قطع کول /پریکول;<br>• صفا او پاکول;<br>• وینځل / پریمنتل;<br>• تلل / وزن کول; | • د سامان الاتو ساتلو ځاې<br>• د بیکاره او غیر استعمالي توکو را غونډول | • د اوبدولو کار ګا ه;<br>• د ګنډلو ماشین<br>• د پیوند نیولو ماشین;<br>• د ګلدوزۍ ماشین;<br>• د تپ ورکول خومونه / د یګي | • خام مواد;<br>• رنګ ورکول/ رنګول;<br>• د څرمنو رنګول ;<br>• د اوبو ورکولو سمون;<br>• حرارت /تودوخه ورکول;<br>• ودانۍ; |

### ۹,۲ د چاپیریال ساتنې په اړه د نیول شویو تدابیرو د تاثیراتو په ترڅ کې د قانون (۲۳ماده ).

د هرې پروژې پلان، پالیسي او فعالیت چې په ټولنه او چېریال کې بده اغیزه یا تأ ثیر پیدا کوي. په کومو باندې چې په څرګند ډول د نړۍ په کچه د چاپیریال ساتنې د ضد ونقیضو اثراتو قانون پلي کیدای شي. په دې اړه به د نړیوال چېریال ساتنې له غوره تجرباتو څخه کار واخیستل شي، ترڅو د داسې فعالیتونو مخنیوې وشي. دا کار به هغه مهال په بشپړ ډول عملي شي، چې د ملکي چېریال ساتنې له ادارې/ (NEPA) سره په ملګرتیا کې د ښو پایلو د ترلاسه کولو په مقصد همغږي ترسره شي.

## ۱۰,۳ د اوبو د سرچینو ساتنه او مدیریت

**د اوبو په اړه نوی قانون او د اوبو په سکتور کې د جوړه شوې ستراتیژۍ/(WSS) دواړه به په همغږۍ سره د اوبو د مدیریت په جامع ډول پر مخ یوسي، تر څو وکولای شي د سیندونو او رودونو په مدیریت کې کار وکړي او په دې برخه کې په لویه پیمانه باید کلیوالي ټولنه برخه واخلي. د (WSS) له جوړولو څخه ددې ژمنې اظهار دی چې دا ستراتیژي به د بې وزلۍ په کمولو کې خپل کردار ترسره کوي او دا ټینګار کوي چې د اړتیا پر بنسټ د اړوندو برخوالو وړتیا تر دې بریده جوړه شي ترڅو وکولای شي، کرونده ګر او هغه بې وزله خلک چې د کروندې او یا هم په کوم بل ډول اقتصادي فعالیتو کې له اوبو څخه ګټه اخلي د اوبو د کارونې په اړه د هغوی پوهایو او وړتیا لوړه شي او په دې توګه وکولای شي چې یو هوسا ژوند خپل کړي. په دې هم ټینګار کیږی چې له دې کارونو سره هم مهاله به په فیزیکي بڼه د بیښن بناو جوړولو او بیا رغونې کار هم پیل کړل شي او په دې برخه کې به په روانه بڼه د تصمیم نیولو په برخه کې د ټولنې خلکو ته روزنې هم ورکول کیږي. چې په دې کار سره به نه یواځې دا چې په رسمي بڼه به د اوبو مدیریت وشي بلکې په پریکنده بڼه به نور د پرمختګ لارې چارې هم د مختلفو کرنیزه سیستمونو او نورو بدلیو اقتصادي پرمختیاو لپاره په پام کې ونیول شي. په ځانګړي توګه د هغه برخوال چې په وروستي برخه کې له اوبو څخه کار اخلي او د اوبو د مدیریت په اړوندو برخو کې تصمیم نیسي هغوی ته به په لویه کچه معلومات ورکول کیږي چې د اوبو د لیږد یا انتقال سیستم په څه ډول جوړ کړي او په دې برخه کې څومره د ښه مدیریت په برخه کې له زغم نه کار واخلي. په ټوله کې به د (WSS) ستراتیژي د اوبو له پلوه د ستونزو په کلونو کې چې هر څوک ځانته ورڅخه ګټه پورته کوي په دې برخه کې به غیر دولتي موسسې خپلو اړیکو ته له کلیوالي ټولنو سره په لویه پیمانه پراختیا ورکړي او ددې اړیکو ساتنه به په پام کې ونیسي ترڅو د وچکالۍ په وختونو کې له کلیوالي پرمختیایي شوراګانو سره ناستې ولاړې ترسره کړي او په دې برخه کې خپلې هر اړخیزې مرستې ونسپموي چې له د (WSS) ستراتیژي د اوبو د ستونزو د هواره ولو په برخه کې خپل لوی کردار ترسره کړي چې له مخې یې د اوبو رسد د ټولنې هر غړي ته په سمه توګه مدیریت شي. په ورته وخت کې به د اوبو لپاره د جوړ شوي قانون پلي کوونکي ټول برخوال دې وهڅوي چې د اوبو د مدیریت لپاره د پلان په جوړولو او پلي کولو کې حضور ولري او رسماً د هغوی برخه اخیستنه معلومه وي په ځانګړي توګه دا ډیره اړین دي چې د اوبو په اړه په هره کچه کومه ستونزه د اوبو د کاروونکو ترمنځه را ولاړیږي هغه په ډیرې اسانتیا سره هواره کړل شي. د ستونزو د حل په برخه کې غیر دولتي موسسې ډیر مخکښ دي او دا ډیر زیات لیدل شوي دي د اوبو د وروستي کاروونکي پورې دوی د مناسبو روزنو ، د وړتیاو دلوړولو او د نوښتونو/ ابتکاراتو د پرمخوړلو په برخه کې خپلې هلې ځلې نه دي سپمولي. په سیمه ییزه کچه د اوبو د صارفینو لپاره په دې قانون کې کلیدي مقررات د برخوالو لپاره د مدیریت په مناسبت ځای پر ځای شوي چې د اوبو د سرچینو مدیریت په سمه توګه ترسره کړي، د اوبو او بریښنا او د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونه به په دې برخه کې د داسې یوې اتحادیې جوړولو مسؤلیت ترسره کوي. همدا راز د قانون لسمه (۱۰) ماده د اوبو او بریښنا وزارت دا دانده سپاري چې د اوبو د**

**کاروني په موخه ټولنې/ اتحاديې تشکيل کړي او د يولسمې (۱۱) مادې پر اساس د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت بايد د اوبه خوار يا آبيارۍ په اړه ځينې اتحاديې تشکيل کړي، د اوبه خور يا ابيارۍ د اتحاديو کردار لا ډير وضاحت په ۲۳ ماده کې شوې ده چې داسې پکښې راغلي. د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت کولای شي په مشخص ډول ځينې مسؤليتونه د اوبه خور/ ابيارۍ د نيټ ورک يا جال د هغو ثبت او راجستر شويو اتحاديو ترمنځه ترسره کړي چې د اوبو د ويش په اړه مسؤليتونه لري. په همدې متن کې په څرګندو ټکو دا ويل شوي چې ددې نويو اتحاديو او د دوديزه مديريت ترمنځه دې اړيکو ته چې د اوبه خور يا ابيارۍ په سيستم کې فعاليتونه ترسره کوي پراختيا ورکړل شي. کوم خلک چې د اوبو د مديريت په برخه کې په دوديز ډول کار کوي هغوی ته مير باشي او يا ميراو ويل کيږي چې همدې بيا په دوديز ډول د اوبو مديريت په سمه توګه ترسره کوي.**

**د افغانستان د اوبو قانون پخپل قانوني مقرراتو کې داوبو موضوعات تر پوښښ لاندې راوستي دي چې په (۵) څپرکي کې يې په اړه وضاحت ورکړی. له همېدې امله د چاپيريال د خوندې ساتنې موضوع له اوبو سره نږدې په پام کې نيول شوي چې په اړوندو برخو کې د اوبو د مديريت او کنټرول ترسره کوي. په همدې پاملرنې سره د کليوالي ميرمنو د اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د اوبو بې ځای کارونه او هدر تويه ول د پروګرام په منفي لست کې راوستی دی. ددې لپاره کولای شئ. د الف ملپاڼې ورشئ او د دې پروګرام د منفي کړنو يا فعاليتونو لست په فرعي پروژو کې وګورئ.**

## ۹,۴ د افغانستان د لرغونو تاريخي او کلتوري اثارو ساتنه.

د افغانستان د لرغونو تاريخي او کلتوري اثارو ساتنه او حفاظت يواځې د لرغون پيژندنې د کميټې مسؤوليت نه دی. چې په يو مناسب وخت کې په رسمي توګه د قانون پوهانو تر نظر لاندې د افغانستان د لرغونو تاريخي اثارو د ساتنې او حفاظت د مسؤليتونو د مجلې په (۸۲۸ ګڼه کې د ( ۳۱ /۰۲/ ۱۳۸۳) نيټې تشکيل او خپور شوی وو. بلکه په عمومي توګه دا د هر افغان دنده ده، چې د هيواد د لرغونو تاريخي اثارو ساتنه وکړي. په ځانګړي ډول د کليوالي ميرمنو د اقتصادي پياوړتيا پروګرام/ (WEE-RDP) سيمه ييز مراجعين هم په دې لړکې ځانګړي مسؤليتونه لري، چې له دې اثارو څخه ساتنه وکړي. کله چې د لرغونواثارو د کيندنې او موندنې پر مهال د امکان په صورت کې ځيني لاسي اثار پيدا شي، نو په دې لړکې به د پروګرام لخوا سيمه کارکوونکو او د پروګرام مراجعينو ته په ټولنه کې ځانګړي روزنه ورکړل شي، چې د دې لرغونو اثارو د ساتنې لازم مسؤليتونه دوی ته په ګوته کړي.

له امکان څخه لرې ده، چې د کليوالي ميرمنو د اقتصادي پياوړتيا پروګرام/ (AREDP) د صنعتونو/ تشبثاتو د پراختيا ځانګه چې په خپلو ټولو پروژو کې په کوچنيو عايداتي فعاليتونو څرخيږي، د کلتوري لرغونواثارو ته د ړنګيدو او زيان رسيدو کوم ګواښ له ځان سره ولري. سربيره پردې دا نو شونې نه ده، چې د دې پروګرام پروژې دې په منفي لست کې ونيول شي او داسې نسبت دې ورته وشي چې ګواکې دا پروژې د ملاتړ وړتيا نه لري.

په ممکنه توګه د پيدا شويو اثارو د مسؤليتونو تفصيل په **ب: مل پاڼه کې تر تيب شوې په دې کولای شئ ( د پيدا شويو اثارو تګلاره) وګورئ.**

دا تګلاره په **ب مل پاڼه** کې په بشپړ ډول ترتيب شوې چې په معياري ډول مسؤليتونه په نښه کوي. هرکله او په هر ځای کې چې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو/ تشبثاتو/(SME s) ، کليوالي صنعتونو، کليوالي پرمختيايي شوراګانو/ (CDC) غړو ته د پروګرام لخوا روزنې ورکول کيږي، نو په دې روزنو کې به د چاپيريال ساتنې د افاقي معلوماتو برسيره د لرغونو اثارو د ساتنې، بسته بندۍ او ذيدخلو ارګانونو ته د ليږد په اړه خبرتياوې او روزنې هم شاملې وي.

## ۹,۵ د قدرتي افتونو قانون مسوده چې په (۲۰۱۲ کال کې توشيح شو:

د قانون دا مسوده د افغانستان اساسي قانون له (۱۴) مادې سره سم د دوامداره کرنې لپاره جوړ شوې، ترڅو د کرنې په برخه کې د چاپيريال ساتنې د مديريت لپاره د قدرتي افاتو د مخنيوي او يا هم د پيښيدو په صورت کې ورته يو جامع قانوني کاري چوکاټ ترتيب کړي، چې په هغه کې ټول جوړ شوي معياري اصول د ټول ولس يا کرونده ګرو او هغه خصوصي سکتور لپاره ځای پرځای شوي وي چې په کرنيز سکتور کې ښکيل دي او يا هم له توليدي اتحاديو سره تړاو لري په دې ټولو مواردو کې به له دوی سره د افتونو د مخنيوي يا د خپريدو او يا هم پيښيدو په صورت کې دارو درملو په کارونې کې مرسته او ملګرتيا کوي.

دا ماده د دې لپاره جوړه شوې چې د مديريت اختيارات يا واک ترتيب کړي ددې ا مادې په اړه سپارښتنه کيږي چې بايد د ژوند په ټولو ابعادو کې د افتونو په مناسبت پلي کړل شي، ددې مادې پلي کول په لاندې سکتورونو او کړنو لازمي ګڼل کيږي، ليکن په همدوی پورې به منحصره نه وي. په دې سکتورونو کې وارداتي توکي، د جوړولو سکتور، د ويش سکتور، د توليداتو د بسته بندي، د ليبل لګول سکتور، پلورنه، ترانسپورت، د توليدا تو زيرمه يا ذخيره کول او د افتونو يا د ناروغيو پر وړاندې د درملو د کارونې سکتورونه شامل دي، له دې سره په خوا دا ماده به په اړوندو څيړنو، د خدمتونو د ترسره کولو، د پوهاوي په موخه په کمپاينونو، تعليمي او د زده کړې په پروګرامونو او له دې ور ها خوا په نورو فعاليتونو لکه د بازار موندنې ، روزنو، لايسنس يا جواز اخيستلو، له پخوانيو موادو څخه په بيا جوړ شويو توکواو ضايع کيدونکو ټولو مواردو کې بايد د چاپيريال د خوندي ساتنې په موخه دا مادې په پام کې وساتل شي. لنډه دا چې دا مادي په ټولو هغه مواردو کې چې افتي ناروغۍ خپروي او يا هم په ټولنه کې د چاپيريال له پلوه ستونزې جوړه وي، د افغانستان په قلمرو کې د پلي کيدو وړ ده او هيواد والو ته سپارښتنه کيږي چې په هر ه برخه کې د چاپيريال د خوندې ساتنې په موخه خپل مسؤليت ترسره کړي.

د قدرتي افتونو د پيښيدو په صورت کې چې د سپارښتونو په موخه کومې قانوني مادې جوړې شوي، له هغو سره سم له افت څخه مراد هر هغه شی يا ماده يا مخلوط مواد حسابيږي او د ککړتيا يا چاپيريال ته د زيان رسولو په ضمره کې راځي چې پخپله د افت د لمنځه وړلو او يا هم د کنټرول په موخه کارول کيږي چې د هغې په کارونې سره که هغه انسان ته وي او که څارويو او يا هم نورو حيواناتو په زيان تماميږي، يا غير مطلوبه مختلف النوع بوټي، وابښه، حيوانات؟ ځناور چې د توليداتو د جوړولو، پروسس کولو، زيرمه کولو، د ترانسپورت له پلوه د ليږد را ليږداو يا مارکيټ ته د خوراکي توکو د ليږدولو، بازار موندنې، کرنيز توکي لرګي او يا هم د لرګيو توليدات، يا دا چې د څارويو د خوراکي توکو پاتې شونې او يا داسې شيان يا مواد له کومو څخه چې کيدايشي د څارويو په بدن کې د شته ورګو او سپږو او يا هم نورو ژوو د له منځه تللو په موخه کار اخيستل کيږي. په دې ټولو مواردو کې دا پورتنی قانون يا بندپه تفصيلي توګه د پلي کيدو سپارښتنه کوي ترڅو په دې ټولو مواردرو کې نه يواځې دا چې انسانانو او حيواناتو ته زيان ونه رسيږي بلکې په دې سره به چاپيريال خوندي وساتل شي. له همدې امله ددې مادې د پلي کولو په مناسبت ټينګار کيږي چې بايد په جدي توګه د نړيوال کنوانسيون له مخې په پام کې ونيول شي له کوم کنوانسينو يا کميسون سره چې د ژمنتيا په برخه کې د افغان دولت لاسليک موجود دی. نړيوال کوډ د افتونو د لمنځه په اړه او په دې برخه کې د کاروونکو درملو د کارونې په اړه ددې سپارښتنه کوي چې په نړيوالو اصولو کې د بشر د روغتيا، د چاپيريال او د طبيعې زيرمو د خوندې ساتنې کومې سپارښتنې کوي په هغو کې په مشخص ډول لاندې موخې هم شاملې دي (i) لومړی دا چې بايد د افتونو د لمنځه وړلو لپاره د داروګانو د کارونې په نتيجه کې د انسانانو او حيواناتو يا څارويو روغتيا ته زيان ونه رسيږي (ii) چاپيريال خوندي وساتل شي، (iii) د غوره توليداتو په دوام کې اسانتياوې پيدا کړي، (iv) د افتونو پر وړاندې د قانون په پلي کولو او جنس په خوندې ساتلو کې مرسته وکړي، (v) د افتونو د مديريت لپاره د غوره تجربو د پلي کولو پر مهال اسانتياوې را پيدا کړي، او (vi) دا ډاډ ترلاسه شي چې کرنيزه محصولات له افغانستان څخه په بشپړ ډول د نړيوالو معيارونو سره سم صادريدو ته برابر دي او دا وړتيا لري چې په نړيوالې سودا ګرۍ کې ور ګډ کړل شي.

## ۹،٦ د ماينونو او نا چاودو توکو او ګوانښونو د لمنځه وړلو لپاره کاري مديريت:

د کال ۲۰۰۲ میلادي د سپتمبر په ۱۱ لسمه نیټه د افغانستان دولت هغه تړون  په رسمي توګه لاسلیک او وپیژاند. چې له مخي یې د چاودیدونکو توکو او د انساني پرسونل ضد ماینونو تولید، لیږد را لیږد، زیرمه کول او ناوړه ګټه اخیستنه منعه ګرځول شوی. دا تړون د( اټاوا تړون په نامه) مشهوردی.

د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا/(WEE-RDP) لخوا لاندی تګلاره د دې لپاره ترتیب او ډیزاین شوی، څو په افغانستان کې د ماینونو/ چاودیدونکو توکو په سبب را پیښ شویو خطراتو ته په سمه توګه ځواب وواېي. تر کومه ځایه چې دا کار د ټولنیزو صنعتونو، کوچنیو او منځنیو صنعتونو/ تشبثاتو  یا کاروبارونو سره تړاو لري،  نو د دې تګلارې پلي کول به په ټولنه کې د ځایي خلکو د غونډو په مرسته ترسره شي. چې په دې وسیله به هغه ځایې مقررات او کړنلارې چې د صنعتونو او سوداګریزو کاروبارونو د خدماتو د پرمختګ لپاره جوړ شوی هغه به هم په پام کې ونیول شي.

د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا/(WEE-RDP) پروګرام  به په خپلو ټولو پروژو کې د ودې  او پرمختیا لپاره یاد شوي مقررات هم خپل پوښښ لاندې راولي. په دې اړه به ټولنه کې په مسؤلانه ډول دا باور ترلاسه کړي، چې هرهغه پروژه چې دوی یې په سیمه کې پلي کول خوښوي؛  هغه  سیمه یا ځای د چاودیدونکو توکواو ماینونو څخه پاک دی او لادمخه د (MACA) د موسسې لخوا پاکه شوي.  یا د کومې بلې موسسي په وسیله چې د (MACA) لخوا پیژندل شوي وي،  په بشپړ ډول د ماینون له خطر څخه پاکه شوې ده.  د ټولنې خلک په خپل ګاونډیتوب سره پخپل منځ کې په غوره توګه هغه سیمه پیژني، چېرته چې د ماینونو یا چاودیدونکو توکو شتون په سترګو کیږي.  ځکه چې دوی په خپل ورځني ژوند کې په همدغو سیمو کې بې شمیره راکړې ورکړې ترسره کوي او د خطرناکو سیمو په اړه له دوی څخه بې شمیره سم راپورونه ترلاسه کیدای شي.  هغه تګلاره چي  د کوچنیو او منځینو صنعتونو د پرمختیا څانګه  به یې په ټولنه کې د ماینونو د پاکولو لپاره په کار اچوي، **په (D) مل پاڼه کې تر تیب شوی.**  په دې اړه په(D) مل پاڼه کې له **ماینونو څخه د سیمې د پاکولو او په اړه یې د راپورونو او تصدیقنامو تګلاره وګورئ.**

**۹،۶  د چاپیریال ساتنې نړیوال کنواسیون یا کمیسنو  او تړونونه/ معاهدې:**

**د چاپیریال ساتنې په مناسبت نړیوال تړونونه / معاهدې، کړنې او تګلارې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لخوا منل شوي او ددې لپاره لاسلیک شوي چې وکولای شي په ملي او نړیواله کچه د چاپیریال ساتنې د مدیریت  په برخه کې خپلې  غوښتنې یا اړ تیاوې په سمه توګه پوره او ترلاسه کړي، په دې ادارو یا کنواسیونونو کې لاندې کنواسیونونه یا اداري په مختلفو برخو کې خپل فعالیتونه او خدمتونه په نړیواله کچه هیوادونو کې وړاندې کوي:**

- **د ملګرو ملتونو کنواسیون په هغو هیوادونو کې چې له وچکالۍ سره مخ دي او یا هم په جدي توګه له وچکالۍ سره مبارزه کوي خپلې کړنې او فعالیتونه د ژوند د بقاپه موخه جاري ساتي.**
- **د اوزون د خوندي ساتنې په موخه د وینا کنواسیون جوړ شوی، چې دا کنواسیون له زهري ګازونو څخه د اوزون د ساتنې لپاره فعالیت ترسره کوي.**
- **له زیان رسوونکو مادو یا شیانو څخه د اوزونو د خالي کولو پروتوکول چې د مونیترویل پروتوکول په نامه یادیږي.**
- د هغه خطرناکه موادو یاضایعاتو او د دوی د ضایعاتو د ترانسپورت لاریو د کنټرول لپاره د بیسل کنوانسیون جوړ شوی،  چې د (د بیسل کنوانسیون) په نامه یادیږي.
- **د خوراکي توکو او کرنیزه تولیداتو په برخه کې د هغو کروندو جنېټکي بوټو د پاملرنې لپاره نړیوال عهد/ تړون.**
- **د بیا لوژیکي تنوع یا ډولونو لپاره جوړ شوی کنواسیون (**UNCBD**)**
- **د سمندرونو د ککړتیا په برخه کې د ملګرو ملتونو کنواسیون.**
- **د هواد تغیر او بدلون راتلو په مناسبت د ملګرو ملتونو کنواسیون /** (UNFCCC) **چې د بدلون لپاره یې کار کوي.**

- د هوا د ککړتیا کنټرول او مخنیوي په اړه د سرحداتو په ترانسپورتي تګ راتګ او د سویل آسیا لپاره د بالقوه تاثیراتو اغیز د مخنیوي کمېټه
- هغه مواد چې له منځه ځي یا ضایعاتو او د نورو مسایلو د را پېښیدو له امله چې سمندري ککړتیا را پیښیږي د هغو د مخنیوی لپاره د لندن کنوانسیون (لندن تړون)
- د نړیوال کلتوري او طبیعی میراثونو د ساتنې تړون /( کنواسیون)
- په لویو او ژورو سمندورونو کې د کبانو د خوندي ساتنې او د هغوی د ژوندي پاتې کیدو لپاره د سرچینو د پیدا کولو تړون ( کنواسیون)
- په نړیواله سوداګری کې د یوې داسې ډلګی چې د صحرایي ګلونو او یا هم ځناورو راکړه ورکړه کوي د هغوی د کنټرول لپاره تړون یا (CITES) ( کنواسیون)

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په نړیواله کچه لاندې مهم تړونونه یا قراردادونه د چاپیریال ساتنې او نورو مواردو لپاره نه دي لاسلیک کړی او نه هم په دې تړونو نو یا کنواسیونو کې غړیتوب لري:

- د روټر ډایم کنواسیون یا (تړون) چې د لومړنیو معلوماتو سره سم د افت وژونکو موادو ویش او کارونې لپاره جوړ شوی.
- سټاکخلم کنواسیون ( تړون) چې په دوامداره توګه د ککړتیاو یا د هواد خرابیدو په مناسبت سازمانونه جوړوي.
- په نړیواله کچه د نباتي بوټو او ونو د ساتنې کنواسیون (IPPC)
- د وحشي ځناورو د مهاجرتونو په برخه کې د خوندي ساتنې په موخه جوړ شوی کنواسیون ( تړون)
- د کیټو پروتوکول چې د هوا د بدلون په موخه جوړ شوی.
- د ۲۱ مې اجنډا د پایښت کمیسون چې په نړیواله کچه د خوځښت او پراختیا لپاره باثباته او دوامداره اقدامات ترسره کیږي او په دې برخه کې د (چاپېریال د خوندي ساتنې د منظم مدیریت) لپاره هغه سپارښتنې وړاندې کیږي چې له مخې یې په ناقونونه توګه د زهري کیمیایي لیږد را لیږد په نړیواله کچه ترسره کیږي د هر ډول زهري تولیداتو د تولید،صادراتو او وارداتو د مخنیوي لپاره نړیوال کنواسیون /(تړون)
- د چاپیریال او پراختیا په برخه کې د ریو اعلامیه چې د طبیعي زیرمو د پایښت، کارونو او پراختیا لپاره پام لرنه کوي.

## ۱۰ په بالقوه توګه د چېریال ساتنې او ټولنی پر وړاندې د بدو تأثیراتو د کمولو تدابیر:

### ۱۰,۱ په بالقوه توګه د چاپیریال ساتنې تأثیرات/ اغیز:

کوم فرعي کړنې یا فعالیتونه چې د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا WEE-RDP تر سیوري لاندې په کلیوالي افغانستان کې ترسره کیږي، په هغو کې ددې احتمال شته چې په ډیره ټیټه کچه ټولنه او چاپیریال کې د ککړتیا تأثیرات پیدا کړي. که چېرته په ځواکمنه توګه کوم منفي تأثیر د صنعتونو په فعالیتونو کې د چاپیریال د بد اغیز له پلو را پیدا کیږي، یعنې کوم فعالیتونه او کارونه چې د هغو کاروبارونو او تشبثاتو له پیل سره سم پیدا کیږي چې په ډیر کم مهارت او پانګونې سره پیلیږي او له بل پلوه یې کاري ځای او ټوله بدنه یا جوړښت دومره دی چې په یو ځانګړي او جلا ځای کې دا کاروبار یا صنعت پیلیږي لیکن بیا هم په دې ټوله پروسه کې به په اصولي توګه په پرله پسې ډول د دې پروګرام په ټولو فعالیتونو کې د چاپیریال او ټولنې د نه ککړیدو یا اغزمن کیدو لپاره اقدامات ترسره کیږي.

هیله ده چې د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام په کلیوالي افغانستان کې د چېریال او ټولنیز ژوند د شرایطو د ښه کولو په برخه کې اغیزمن تمام شي، ځکه چې دا پروژه په ملي کچه په ټول هیواد کې د اقتصادي پراختیا په موخه پیلیږي او د چاپیریال په خوندي ساتنې ډیر تمرکز لري، په ځانګړي توګه په کلیوالي سیمو کې چې د هیواد په هره برخه کې هر قوم او ولس له دې پروګرام څخه په مساوي توګه ګټه پورته کوي. دغه پروژه په مرکزي توګه د ټولنیزه اقتصادي پیاوړتیا په فعالیتونو کې بوخته ده، چې په کلیوالي ټولنو کې به په مختلفو سکتورونو کې د کاروبارونو او تشبثاتو د پرمختیا په برخه کې کار کوي. په بالقوه توګه ځینې هغه کوچنې تاثیرات چې کیدای شي په احتمالي

توګه د دې پروژې په پلي کولو سره په ټولنه کې پیدا نشي او که چېرتهموجود وي نو دپروګرام په ډېر تمرکز سره به له منځه ولاړ شي دا فعالیتونه څه  په لاندې ډول دي لیکن په دې پورې محدود نه دي.

- د روغتیا او  حفظ الصحه په چارو کې خدمتونه ترسره کول
- د خاورې د دوړو او د ځمکې د کیندې په صورت کې  خدمتونه ترسره کول
- د هوا، اوبو او د خاورې د ککړتیا په صورت کې خدمتونه ترسره کول
- د بې کاره شیانو د را ټولنې او له منځه وړلو په صورت کې خدمتونه ترسره کول
- د کم عمره کارکوونکو د نه استخدام لپاره خدمتونه ترسره کول

د چاپیریال ساتنې په برخه کې د نړیوال بانک له پالیسیو سره سم د چاپیریال ساتنې په اړه د افغانستان  له اساسي قانون سره سم  د چاپیریال د بدو تأثیراتو په اړه په ټولنه کې ارزونه ترسره کوي، هر کله چې ددې پروګرام په فرعي پروژو کې کوم د پام وړ ناوړه تأثیر ولیدل شي د تصفیه حساب په موخه به  یاده  پروژه  د چېریال ساتنې په برخه کې د NEPA اداري ته ور وپيژندل شي ترڅو هغوی ورڅخه د ککړتیا په مناسبت حساب کتاب یا څیړنې ترسره کړي.  لیکن مخکې هم دا روښانه شوله چې د WEE-RDP کوچنۍ فرعي پروژې داسې دی چې په کوچني مهارت او د ټولنې په کچه پیلیدونکي کاروبارونه یا تشبثات دی او له هغو څخه دا امکانات نه په سترګو کیږي چې په لویه پیمانه د چېریال د ککړتیا په برخه کې تأثیرات خپاره کړي.

۱۰,۲  په بالقوه توګه د ټولنې بد تأثیرات

دکلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا د پروګرام  د  فرعي پروژې  لومړی او دوهم فعالیتونه په کلیوالي سیمو کې د  WEE-RDP لپاره په ټوله کې کوم ټولنیز منفي اغیز نلري.  او ترکومه ځای چې د فرعي پروژو په لست کې دریم فعالیت ددې پروژې  لاندې راځي،  هغه هم د امکان په صورت کې کیدای شي چې خپل ډېر کم اغیز په ټولنه کې پریږدي. د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتی لپاره جوړ شوی پروګرام WEE-RDP به پخپلو کړنو او فعالیتونو کې د چاپیریال د خوندي ساتلو په موخه یو شمیر چک لستونه پلي کړلي، په دې برخه کې د پالیسو  او ستراتیژیو وړاندې کول به د ټولنې په کچه د ککړتیاو د کمولو لپاره پلان کړل شي، ترڅو وکولای شي په سمیه کې د خپلو پروژو د پلي کولو پر مهال هغه ککړتیاوې چې د دې پروژې د فرعي کړنو په نتیجه کې را منځته کیږي هغه کم اوبیا له منځه یوسي.  داسې یو سیستم به جوړ کړل شي، چې په هغې سره ځایي خلک په سیستماتیک ډول د چاپیریال د ککړتیا د مخنیوي په برخه  کې له پروژې  سره را ښکیل  شي؛ ترڅو هغوی هم له ککړتیا څخه د چېریال د پاکولو په فعالیت کې برخه واخلي.  په دې برخه  کې د پروژې په هر فعالیت یا کړنې کې په شمول د ESMPs په ټولو کې به د ککړتیا د کمښت لپاره اقدامات ترسره کیږي.  ددې پروګرام د فرعي پروژو له فرعي کړنو څخه دا هیله کیږی، چې دا به  د خلکو په  ژوند کې  ښه والی  راوړي.  له دې ور ها خوا  د عامه خدمتونو په شمول ، مارکیټ ته د لاس رسی، د کارموندنې د فرصتونواو د عایداتو د زیاتیدو په برخو کې به هم ټولنې ته ددې پروګرام ګټې ورسیږي. په هر صورت د WEE-RDP موخې دا دي،  چې تر ډېره بریده په سیمه ییزه کچه اوسیدونکو ته د هیواد د اقتصادي  پراختیا په پروسې کې د داخلیدواجازه ورکړیو  ترڅو هغوی هم خپل کردار په دې برخه کې ترسره  او د هیواد اقتصاد پیاوړی کړي.

## ۱۰,۳    په چاپېریال کې کمښت اندازه:

د کمه ولو اندازه په شمول د مخنیویو ټول اقدامات به د  چاپېریال د ککړتیا په برخه کې چې په دې اقداماتو سره د بدیل له لارې  جبرانیږي په دې ټولو موارودو به د پروژې د پلي کیدو پرمهال غور کیږی او په پای کې به له هغو خلکو سره د خبرې اترې کیږي کوم خلک چې نیغ په نیغه د پروژې د ځینو فعالیتونو په پلي کولو سره زیانمن کیږي له هغو سره به د چاپېریال د ککړتیا په برخه کې بحث وشي ترڅو هغو او د هغوی چاپېریال ته زیان ورسیږي.

## په دې برخه کې د چاپېریال د ککړتیا موخې څه په دا ډول دي:

- د ټولنې او چاپېریال ساتنې په برخه کې د پروګرام ګټو ته وده او پرمختیا ورکول
- په سیمه ییزه کچه ناسازو تأثیراتو ته کمښت ورکول، هغو ته د حل لار کتل او بیا په ټوله کې له هغو څخه چاپېریال خوندي ساتل.
- دا ډاډ ترلاسه کول چې د ناسازو یا بدو تأثیراتو ته تر دې بریده کمښت ورکول شوی چې آن یو وخت د WEE-RDP تر دفتري میز پورې موضوع را ورسیږي. یعنې دا په دې معنی چې دپروګرام له پیل څخه نیولې آن تر پایه به دا نوی پروګرام د چاپېریال ساتنې په اړه موضوع جدي په پام کې نیسي لکه څنګه یې پخوا نیولې وه او په اړه به یې ټول اسناد پخپل اړوند دفتر کې خوندي ساتي.

## ۱۱. د خوندي ساتنې ستراتیژي:

د خوندي ساتنې په ستراتیژۍ کې تر ټولو دمخه اغیزمنه مدیریت ته اړتیا ده چې یو جامع او مخلصانه تګلاره ورته جوړه شي. په دې ستراتیژۍ کې د پروژې لپاره پلان جوړول، د کارونو یا فعالیتونو ډیزاینول، پلي کول او په ټوله پروسه کې دپروژې د کړنو څارنه شامله ده، چې په دې ټولو برخو کې باید یوه جامع تګلاره ترتیب شي، که چېرته‌هر کردار یا رول په روښانه توګه په دې تګلارې کې ځای پر ځای نشي او په ټولنه کې دخلکو په ذهن کې رانه وستل شي یا هغوی ورباندې ونه پوهیږي، نو کیدای شي چې د پروژې ټوله پروسه به له ماتې سره مخ شي. په دې اړه د پروګرام ټول کار کوونکي باید یو تر بله د چاپېریال ساتنې په برخه کې د پروګرام له اصولو او مقرراتو څخه خبر وي، چې د ټولنې او چاپېریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو د مدیریت لپاره یې کاري چوکاټ جوړ او تشریح کیږي.
له WEE-RDP سره د استخدام په صورت کې د چاپېریال ساتنې په برخه کې ستراتیژي داسې ده چې به هره کچه به دچاپېریال د ککړتیا په برخه کې د خبرتیا روزنې ورکول کیږي او په دې برخه کې به د افغانستان د ټولنې او چاپېریال ساتنې منظم کاري چوکاټ پلي کړل شي. ترڅو دا ډاډ کارکوونکو ته حاصل شي چې ستراتیژي په سمه توګه پلي شوې ده. هغه وسایل یا اوزار چې د ککړتیا مخنیوی ورباندې کیږي یا ګواښونه کنټرولوي او دپروګرام د پلانونو پلي کول او په سیمه کې د پروګرام د داخلیدو څارنه یې په وسیله ترسره کیږي؛ ترڅو وکولای شو د ککړتیا مخنیو وکړو چې د پروګرام له پیل سره به په سیمه ییزه کچه د چاپېریال د خوندی ساتنې په اړه فعالیتونه پیل شي.

## ۱۱،۱ د ظرفیت یا وړتیا جوړول:

په عمومي توګه د چېریال ساتنې د ستراتیژۍ په اړه د مؤثرو نیول شویو تدابیرو پلي کول، د پروګرام د ټولو کارکونکو دنده او مسؤلیت دی. مګر په ځانګړي ډول د پروګرام لوړ پوړي چارواکي په دې لړکې تر ډیره حده مسؤلیت لري، چې د چاپېریال د حفاظتي تدابیرو په اړه د هراړخیزه احتمالي اغیز او تأثیراتو څخه معلومات ولري. د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره روزینزه غونډې او خبرې اترې تر ډیره حده کارکونکو ته دا زمینه برابروي، چې دهیواد د ملي قانون او مقرراتو په اړه له یو بل سره خبرې اترې وکړي او په اړه یې پوهاوی ترلاسه کړي. ترڅو هغه منفي ننګونې او پوښتنې چې د حفاظتي تدابیرو د ستراتیژۍ د تګلارې پر وړاندې یې د تأثیراتو/ اغیزو اټکل کیږي، هغوی ته له غوښتنو سره سم د مثبتو ځوابونو او د بالقوه ځواک د پیدا کولو لپاره خپل ترمنځ خبرې اترې او د افکارو تبادله وکړي.

د پروګرام کارکونکو ته وخت ورکړئ، چې د ستراتیژۍ د موضوعاتو د تطبیق په اړه د خپلو مسؤلیتونو د احساس څرګندونه تر وروستي بریده وکړي. او په لوړه کچه د ولایتي کاروکونکو او د ټولنې له غړو سره په دې اړه د مرستو ژمنه وکړي. کله چې دوی د ستراتیژۍ د موضوعاتو د پلي کولو په اړه په سیمه کې د زمینې د برابرولو په لړکې خپلې هلې ځلې پیلوي. غوره به وي چې د افغانستان تاریخي کلتور ته په کتو سره خپل کار پیل کړي. دا به د سیمې خلکو ته ډیر په زړه پورې او حیرانونکې وي. او د دوی په ذهنونو کې چې د چېریال ساتنې د حفاظت په اړه کومې پوښتنې راولاړیږي؛ هغو ته به په غوره توګه ځوابونه ومومي. چې د چېریال د حفاظتي تدابیرو موضوع له حقوقي پلوه کوچنۍ او د هیواد د قانوني چوکاټ څخه بهر نه ده. بلکې په دې لړکې ټولې هلې ځلې د هیواد او نړیوال قانون له تجربو او معیارونو سره سم دي. چې باید په غوره توګه په هیواد کې د چېریال ساتنې د حفاظت لپاره پلي کړای شي.

د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام/(WEE-RDP) د ټولنې او چېریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو په اړه کاري چوکاټ داسې ترتیب کړی. چې وکولای شي ټولو کارکوونکو ته په عمومي ډول او په ځانګړي ډول DC, SOs, VFs او BDSPs ته په دې لړکې د ظرفیت د لوړتیا او ملاتړ زمینه برابره کړي. څو دوی په خپل منځ کې په معقولې طریقې سره د خپلو پوهو په رڼا کې په ټولنه کې د چېریال ساتنې د حفاظتي ستراتیژۍ د پلي کولو اړتیا احساس کړي. د چېریال ساتنې په اړه د حفاظتي تدابیرو د ستراتیژۍ روزنه د پروګرام نه بیلیدونکې برخه ده، چې د مدیریت په اړه به یې لازمې روزني ټولنې ته د ټولنې د پرمختیایي مشورتي څانګو/(CDCs) له لوري وړاندې شي، چې په عمومي توګه به له ټولنې څخه په دې روزینزه ورکشاپونو کې د ګډون لپاره له ډیرو غړو څخه د ګډون غوښتنه وشي. ځکه چې د پروګرام له لوري د دې روزینزو ورکشاپونو اندازه یا پیکیج د ډیرو خلکو د برخې اخیستنې لپاره ترتیب شوی.

## ۱۱،۲ د چاپېریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو د پلي کولو ډلګۍ (Unit):

د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام (WEE-RDP) به د حفاظتي تدابیرو د پلي کولو لپاره یوه ډلګۍ وګماري. چې هغه به د پروګرام له داخلي اداري برخې څخه تشکیل شوی وي. څو په دې لړکې د (WEE-RDP) د کارکوونکو ظرفیت جوړ او لوړتیا ور په برخه کړي. چې د دې کار د ترسره کولو لپاره به د ټولنې او چاپېریال ساتنې په برخه کې یو مدیراو مامور سره یوځای استخدام کړل شي همدا راز د ټولنې او چاپېریال د خوندې ساتنې په موخه به د شکایتونو دثبت او راجستر په مناسبت دوه مامورین چې یو به یې نارینه او بله به یې ښځینه وي په دنده وګمارل شي ترڅو د چاپېریال د ککړتیا په برخه کې دخلکو شکایتونه له اداري سره ثبت او راجستر کړي. سربیره پر دې د زون په کچه به دچاپېریال او ټولنې د خوندي ساتنې په برخه کې دوه ماموران دپروګرام لخوا په دندو وګمارل شي چې یو به یې نارینه او بله به یې ښځینه کارکوونکې وي، دا یوه جوړه به په هر زون کې د پروګرام لخوا د چاپېریال د نه ککړتیا په مناسبت په دنده ګمارل کیږي.

د ټولنې او چاپېریال د خوندي ساتنې په موضوعاتو کې به د پاملرنې مسؤلیتونه د مدیر په غاړه وي، چې په ټاکل شویو سیمو کې د کاروبارونو/ تشبثاتو هر ډول ستونزو ته ځواب ووایي. همداراز کومې ستونزې چې په کوچنیو او منځنیو کاروبارونو کې پیدا کیږي اویاهم په صنعتي ګروپونو کې رامنځته کیږي او یا دا چې د پروګرام نورو ګټه اخیستونکې له کوم ډول ستونزو سره د چاپېریال د خوندي ساتنې په برخه کې مخ کیږي، په دې ټولو برخو کې استخدام شوی مدیر او مامورین که هغه د زون په کچه وي او که د ولایت په کچه مسؤلیت لري، چې

د حل په موخه یې اقدامات ترسره او  ډاډ ترلاسه کړي چې د چاپېریال د خوندي ساتنې ستراتیژۍ پلي شوې ده. په دې اړه لاندې ټکي په پام کې ساتل پکار دي:

- د منفي تأثیراتو او د هغو د کمښت لپاره د ټولنې په کچه  د روزنې په مناسبت روزنیز موډل جوړولو ته اړتیا ده چې دا روزنیز موډل باید له د  هغو اړ وندو شرکتونو او د کاروباریانو لخوا  چې د پروګرام تر پوښښ لاندې راځي  دهغوی د وړاندې کړای شویو ستونزو لپاره د حل لار پیدا کړي.
- د (ESMF) د چک لستونو سر پرستي او تحلیل یا شننه باید په سمه توګه ترسره شي.
- د تخنیکې مرستو په مناسبت  دا ډاډ ترلاسه کول پکار دي چې په ملي کچه له پروګرام څخه  بهر د چاپیریال ساتونکو ادارو  او مامورینو څخه د سلا مشورو په برخه کې اړیکې ټینګیږي.
- د دې لپاره چې د (WEE-RDP) په پروګرام کې د شکایتونو د حل میکانیزم یا به بل عبارت د ماشینرۍ په سمه توګه خپل کارونه ترسره کوي نو دا ډاډ ترلاسه کول پکار دي چې په ټوله کې دا میکانیزم په سمه توګه خپل کردار ترسره کړي ددې بیا بیا کتل لازم ګڼل کیږي.

۱. جدول: د ESMF فعالیتونه، کردارونه او مسؤلیتونه:

| # | فعالیتونه/ کړنې | د نده/ کردار او مسؤلیت | کتنې |
|---|---|---|---|
| **1** | د پروګرام لوړ پوړو چارواکو، ولایتي مامورینو، او د پروګرام مراجعینو لپاره د چېریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو روزنه او د روزنې. | د حفاظتي تدابیرو اړوند مدیرانو، او د ټولنې او چارپیریال ساتنې (BDSPs/ESSSPs)، ولایتي صنعتي اسانچارو/(PEF) او کلیوالي اسانچارو/ (VF) | د ملکي قانون لنډیز |
| **2** | د صنعتونو په برخه کې د (CED) یا (SME) وړاندیز ورکول او هغه تسلمیول | په بلنلیکونو کې به په درناوي سره د ملکي قانون د مادو جلا یادونه ترسره کیږي. | د منفي کړنو لست ته مراجعه کول |
| **3** | په مقدماتي ډول د ټولو فرعي پروژو کره کتنه. | په ولایتي کچه ارزونه چې د (BDO/PEF) ټیم په وسیله ترسره کیږي، دا ارزونه به (WEE-RDP) ته د منلو وړ وي. | په فورم کې د کره کتنې برخه |
| **4** | د ټولو پروژو پلان او ډیزاین یا طرحه | د (WEE-RDP) لخوا د ولایتي کارکوونکو چې په هغو کې ( BDSPs/ESSSPs/PEF/VF شامل دي، د دې ټولو رهبریت او سرپرستي به د ټولنې او چېریال ساتنې په مناسبت د (SIU) د ځانګې لخوا کیږي او د ( WEE-RDP لخوا به د دوی جوړ شوي ډیزاینونه له بیا کتنی وروسته تصدیقیږي. | چېرتهچې د ضد او نقیضو اثراتو د کمولو لپاره د اقدام اړتیا لیدل کیږي هلته باید اقدام ترسره شي. |
| **5** | د ټولو فرعي پروژو څارنه /نظارت | د M&E,WEE-RDP,SIU ډلګۍ یا له بهر څخه خدمتونو چمتو کوونکي ټولګی | په ځانګړي ډول چېرته چې د ضد و نقیضو اثراتو د کمښت اړتیا لیدل کیږي، هلته باید اقدام ترسره شي. |
| **6** | په ناڅاپي توګه د موندل شویو لرغونو اثارو د ساتنې مسؤلیت | ولایتي او کلیوالي اسانچاري به د مراجعینو مرسته او ملاتړ کوي. | |

## ۱۱,۳  په هیواد کې د زونونو په کچه د WEE-RDP دفترونه:

په لومړیو کې به د کړنو یا اجرایوي فعالیتونو د مدریت په مناسبت  به  د WEE-RDP پروګرام خپل دفترونه د زون په سطحه جوړوي، چې له همدې زون څخه به د ولایت او ټولنې  په کچهددې پروګرام د ټولو لاسته راوړنو، د خدمتونو د لیږد او د پروګرام څارنې او دخپلو فعالیتونو لپاره  مسؤل وي، چې د چاپېریال ساتنې په برخه کې به د زون د دفتر کارکوونکي لکه: د ولسوالۍ په کچه اسانچاري/DFs او کلیوالي اسانچاري/ VFs د ESSS د مامورنیو په سلا مشوره خپل کارونه پر مخ وړي. دوی به په لاندې توګه خدمتونه د چاپېریال ساتنې په برخه کې ټولنې وړاندې کوي:

- په ټولنه کې  د عامو خلکو د خبرولو لپاره روزنیزه پروګرام کلیو ته وړل .
- د چاپیریال د حفاظتي تدابیرو په برخه کې به د ټولو پروژو د چک شوي لست تفصیل وړاندې کیږي.
- دا باور ترلاسه کول  چې د صنعتي فعالیتونو په ځانګړتیاو کې  د ټولنیزو چارو او چېریال ساتنی د حفاظتي تدابیرو چک لست ته ځای ورکړ شوی؛  او
- دا باور هم تر لاسه کول چې دمنفي تأثیراتو د کمښت راوستو په تدابیرو کې د جوړ شویو  پلانونو پلي کول، له  مسؤلیت  پیژندنې سره په ټاکلو ځایونو کې ترسره شوي.
- د پروګرام په اړه د دندو د زده کړو په ترڅ کې باید د حفاظتي تدابیرو د نظارت موضوع  د معلوماتو د تحلیل او تدقیق په وسیله تنظیم او ترتیب شي؛  او
- یو شمیر پلټونکي  باید وټاکل شي، څوک چې کولی شي، د ټولنی او چېریال ساتنې په اړه د ضد او نقیضو اثراتو د کمښت په لړکې د نیول  شویو تدابیرو څارنه او پلټنه په دقت او جدیت سره ترسره کړي.

عامه ټولنې او صنعتونو/ تشبثاتو ته  د ټولنې او چېریال ساتنې په اړه د حفاظتي تدابیرو د پوهې او خبرتیا  په موخه روزنه  ورکول یا هغوی په دې خبرول  ډیره اړین دي. ځکه چې د افغانستان د حقوقي کاري چوکاټ په حضور کي دوی ته دا حقیقت څرګند شي، چې د پروګرام پر وړاندې د ستونزو  مخنوی ډیر مهم دی.  د ESSS مامور او د ولسوالۍ په کچه اسانچاري DFs  مسؤل دي، چې د کلیوالي اسانچارو  ملاتړ وکړي  او هغوی ته د ټولنې او چېریال ساتنی په لړکې د حفاظتي تدابیرو په اړه د پروګرام  ترتیب شوي مقررات د هغو چوپړ ته وړاندې کړي. چې دا  زده کړې به له هغو سره  د چاپېریال ساتنې په برخ کې مرسته وکړي.   همدا راز په دې روزنو کې  باید  د منفي کړنو چک شوی تفصیلي لست پخپلو کتګوریو کې ولري.  چې په دې  لړکې یې په ټینګار کړی وي، چې پروګرام په خپلو ټولو پروژو کې د ضد او نقیضو اثراتو د کمښت لپاره یواځې د خدمتونو وړاندې کول ترسره کوي. تر څو د پروژې په شا و خوا فعالیتونو کې منفي تأثیراتو ته کمښت ورکړل شي او بیا په تدریجي توګه له منځه یوړل شي.

## ۱۱,۵   هغه چکلست چې په سیمه ییزو صنعتونو/ تشبثاتو، کوچنیو او منځنیو صنعتونو/ (SMEs) او تولیدي ټولنو (PAs) باندې د تطبیقیږي.

هر سیمه ییز ،کوچنی اومنځنی صنعت / تشبث او یا هم لیواله کار وبار لرونکی چې له پروګرام څخه د مرستې غوښتونکی وي، خپل غوښتنلیک دې د مالي لګښت/ پور د ترلاسه کولو لپاره  (د افغانستان د وړو پانګونو د ملاتړ اداري/ (MISFA)، د پور او سپماکلیوالي اتحادیې/(VSLA)  او یا هم نورو داسې ادارو ته وړاندې کړي  چې دکاروبارونو، صنعتونو / تشبثاتو  د پرمختیا لپاره  خدمتونه ترسره کوي.  په دې برخه کې به  دوی ته د WEE-RDP پروګرام د روزنو اسانتیاوې برابرې کړي.
د غوښتنلیک فورمه باید د ټولنې او چېریال ساتنی د حفاظتي تدابیرو د چک لست (F مل پاڼې) ته په کتو سره ډکه شوې وي، چې د ټولنې او چېریال ساتنې د کاري چوکاټ / ESMF له معیارونو سره سمون لري. چې په (G مل پاڼه) کې  یادشوي.

د پروګرام  د ملاتړ یزه مرستو د ترلاسه کولو لپاره به د غوښتنلیکونو شننه/ تحلیل د ولایتي دفتر د کارکوونکو لخوا ترسره شي او له هغه وروسته به یې  تصدیق شي، د پروګرام له هغو صنعتونو/تشبثاتو سره خپل  هیڅ ډول ملاتړ مرسته نه کوي،  چې  هغو په دې ونه توانیږي چې پخپلو تشبثاتو او کاروبارونو کې د منفي تأثیراتو له منځه تلل  اویا هم لږ تر لږه د پلان د عملی کولو پر  وړاندې له غوښتنو سره سم د دې اثراتو کمښت په ګوته نه کړي.

## ۱۱,۶    څارنه او راپور ورکول:

د ولایتي دفتر د څارنې او ارزونې مامور مسؤلیت لري، چې د صنعتونو/ تشبثاتو د غوښتنلیکونو مطالب د څیړنې څخه وروسته تصدیق کړي. او ځان په دې باوري کړي چې د چک شوي لست ځای یا خانه د غوښتنلیک په فورمه کې په بشپړ ډول ډکه شوی او که نه؟  او له هغه وروسته دې د اړوند د ولسوالۍ په کچه اسانچاري (DFs  )  او  (VFs ) په وسیله د بیا ځلي لپاره د غوښتنلیک کره کتنه او تصدیق ترسره شي.  د څارنې او ارزونې مامور ته د دې جواز هم شته چې په چاپیریال  کې د منفي  اثراتو د کمښت لپاره د نیول شویو تدابیرو د تګلارې د تطبیق حال معلوم کړي، چې د تګلارې د تطبیق تفصیلات د              ( ESS) په چک لست کې لیکل شوی او همدا راز د څارنې او ارزونې مامور  باید دې ته هم  پام وکړي، چې په خپلو ټولو فرعي  پروژو کي یې  پلانونه د دې تګلارى د ډیزاین او  طرحی سره سم پلي شوي.
پروګرام به ټول هغه معلومات د مختلفو فرعي پروژو په اړه راټول کړي، چې د ټولنیزو صنعتونو/ تشبثاتو یا کوچنیو او منځینو صنعتونو لخوا خوښ او غوښتل شوي وي. د چیریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو ډلګۍ/(SIU) به په کابل کې د چاپېریال  دمنفي تأثیراتو  د کمښت په لړکې د تدابیرو لپاره یو کتابتون جوړکړي، چې په ټولنه کې د صنعتونو/ تشبثاتو خاوندان او کارپوهان وکولای شی د دې کتابتون په وسیله د خپلو صنعتونو/ تشبثاتو لپاره خپل  تر منځه معلومات  تبادله او لا پسی پیاوړي کړي.

## ۱۱,۷   تخنیکی مرستې:

د چیریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو ډلګۍ (SIU) هم لارښوونې ته اړتیا لري، چې باید دلارښوونو په ترځ کې له هغو سره سلا مشورې وشي. چې د ټولنې اوچیریال د حفاظتې تدابیرو کاري چوکاټ ته څومره دوام ورکول پکار دي.  د بهرني نړیوال حفاظتي تدابیرو تخنیکي مرستې به د کال په یوه ربعه کې برابرې شي (چې په هره ربعه کې به د یوې میاشتې) لپاره وي، چې دا به په بنسټیز ډول په لومړي کال کې وي اوبیا به د دوهم او دریم کال لپاره په همدې ترتیب تمدیدشي.  چې په ځانګړي ډول یو میاشت به په هر کال کې په مقطعي توګه زیاتیږي. لیکن دا به د سلا مشورو د پایلې په ترځ کې د هر کال لپاره په پروګرام کې شاملیږي.

## ۱۱,۸    **د ټولنې اوچیریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو د مدیریت کاري چوکاټ/ (ESMF) بودیجه / لګښت:**

د ټولنې او چاپیریال ساتنې د پلي کولو په برخه کې ددې ځانګې/ یونټ بودیجه د WEE-RDP له ټولې بودیجې سره یوځای شوې ده اود دې پروګرام له ټولې بودیجې څخه مصرف ته رسیږي.

## ۱۱,۹    د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام / WEE-RDP د شکایاتو د حل  میکانیزم:

د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام کې د شکایاتو د حل میکانیزم  دې پروګرام ته دا فرصت برابروي چې په سیمه کې ددې پروګرام د پلي کولو لپاره په غوره کیفیت سره ځینې مشخص اقدامات ترسره کړي، لکه  په کارکوونکو کې د حساب ورکول احساس، د پروګرام په فعالیتونو کې اغیزمنتیا، په چارو کې روښانتیا او ددې ټولو ترڅنګ د پروګرام له ګټه اخیستونکو  او له کلیوالو اوسیدونکو څخه په پرله پسې ډول د پروګرام په اړه نظریات ترلاسه کړي. ځینې اقدامات چې په دې برخه کې یې اخیستل لازمي ګڼل کې په لاندې ډول دي:

- په اغیزمنه توګه د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام WEE-RDP عناصر پلي کول چې په دې کار سره به نیغ په نیغه په سیمه ییزه کچه د پروګرام عملیات پیاوړي شي او په کارونو کې به روښانتیا او حساب ورکول راشي.
- له پروګرام څخه ګټه اخیستونکي او عام خلک په دې لاس برې کول چې د پروګرام له اجرااتو او کړنو څخه معلومات ترلاسه کړي او همدا راز پروګرام ته په ځینو مواردو کې معلومات ورکړي.
- د پروګرام کارکوونکو او له پروګرام څخه ګټه اخیستونکو ته د کلیو په کچه دا جرئت ورکول چې یاد پروګرام ته په ځینو موضوعاتو کې خپل نظریات او څرګندونې وړاندې کړي.
- د کار کیفیت پیاوړي کول ترڅو کوچني او منځني تشبثات، کلیوالي صنعتونه او سیما ګروپونه په لوړ کیفیت سره خپلو ګټه اخیستونکو ده خدمتونه وړاندې کړي.
- د شکایاتو د حل میکانیزم ددې لپاره په دې پروګرام کې وړاندې کیږي ترڅو د پروګرام مراجعینو ته ددې پروګرام په اړه د شکایاتو د وړاندې کولو اصولي او قانوني لار پیدا شي.
- دا میکانیزم جوړول ځکه لازمي دي چې ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې د پروګرام مراجعین له درغلیو، تیروتنو او له قومي تعصباتو څخه وژغورل شي.
- دا ډاډ ترلاسه کول چې په دې پروګرام کې شکایتونه په ګړندي او مؤثره توګه حلیږي.
- ددې لپاره چې مراجعینو ته د پروګرام خدمتونه په غوره توګه او پرته له نیمګړتیا ورسیږي.

دا لازمه ده چې د مراجعینو شکایات مهم وګڼل شي ځکه چې په دې سره په ګړندي توګه اقدام ترسره کیږي ترڅو د شکایت کوونکي شکایت حل شي، ددې لپاره چې په پروګرام کې مؤثریت پیدا شي او مراجعینو ته یې خدمات پیاوړي شي، د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا پروګرام/ WEE-RDP دا میکانیزم په سیمه ییزه کچه وړاندې کوي ترڅو وکولای شي د هر ډول رسمي موضوع په اړه د هغوی د شکایاتو لپاره د حل لار پیدا کړي که نیغ په نیغه پروګرام ته شکایت کوي او که د شکایاتو د کمیدو یا حل کمیټې ته یې په دې پروګرام کې وړاندې کوي. همدا راز د WEE-RDP پروګرام په فردي توګه ځانګړی د بریښنالیک پته/ ادرس هم لري چېرتهچې د پروګرام مراجعین او یاهم عام کلیوالي کولای شي د هر ډول رسمي کار یا موضوع په اړه خپل چې ښاغلی/آغلې پکې له ستونزې سره مخ شوی خپل شکایت ولیږي.

په (H) ملپاڼه د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا **WEE-RDP** لپاره د شکایاتو د سیستم تفصیل وړاندې شوی
په (I) ملپاڼه کې د شکایاتو د حل لپاره د کمیټې د جوړولو لارښوونه شوې.

## ۱۲. د پای ټکی:

د ټولنې اوچېرپال ساتنی تدابیر یواځې دې ته اړیتا نـلري، چې ډېر مرسته کوونکي دې په افغانستان کې د ټولنې او چاپېریال ساتنې لپاره مرسته وکړي. بلکې په ټولنه کې نافذه قانون هم په دې اړه مسؤلیت لري، چې د دې موضوع لپاره ځینې مادې اومقررات په قانون کې ځای پرځای کړي. لکه. د نورو اړوندو موضوعاتو لپاره یې چې ځای پر ځای کړي؛ ځکه چې په ټوله نړۍ کې په دې اړه د اساسي قانون په مادو اومقرراتو کې بدلون راوستل شوی. هغه ننګونې چې د حفاظتي تدابیرود تطبیق یا پلی کیدو اوڅارنې پر مهال د دوي په کار کې راپېښیږي، دا په ډاګه کوي چې دغه ننګونې او کارونه د پروګرام په اجراأتو کې شامل کړای شوي. په حقیقت کې د ټولنې اوچاپیریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو مسؤلیت یواځې د ساتندویه تدابیرو د ډلګۍ نه بلکې په ټولنه کې د هرغړي دنده جوړیږي، چې په دې لړکې خپل مسؤلیت پرځای کړي.

د کلیوالي میرمنو د اقتصادي پیاوړتیا (**WEE-RDP**) به په دې لړکې محدوده ستراتیژي ترتیب کړي. چې په دې اړه به کار کوونکو ته د ستراتیژۍ جوړول او د موادو برابرول یقیني شي. څو له پروګرام څخه ګټه اخیستونکي نه یواځې دا چې د پروګرام پلي کیدل وغواړي. بلکې

هغه ټکي چې باید د ستراتیژۍ په تګلارې کې شامل کړای شوي، په غوره توګه پرې وپوهېږي . د هغو ټکو لنډیز په لاندې ډول ترتیب شوي:

۱. د پروګرام د لوړ پوړو چارواکو او د کلیو د بیا رغونې اوپراختیا وزارت (MRRD) اداري چارواکو ترمنځه د ټولنې او چېریال ساتنې د ستراتیژۍ د پلی کیدو لپاره سره توافق ته رسیدل.

۲. د ټولنی اوچېریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو د تطبیق ډلګی به د ستراتیژۍ په جوړښت کې د اداري دفتر په توګه ځای پر ځای کیدل.

۳. د ټولنی اوچېریال ساتنې د حفاظتي تدابیرو دپلي کولو مامورین باید په دې څانګې کې تل حاضر اوسیدل.

۴. د پروګرام ټولو کارکوونکو ته په ټولو ورکشاپونو کې د روزنیزو ماډلونو چمتو کول.

۵. د حفاظتي تدابیرو د تطبیق ډلګۍ لخوا د ستراتیژۍ په اړه د ولایتي اسانچارو، د سوداګرۍ د پرمختیا مامورانو او د کلیوالي اسانچارو لخوا په روزنیزو ورکشاپونو کې د روزنې پر مهال په سیمه کې د ستراتیژۍ د اوریدیدو پرسر ټینګارکول.

٦. په ټولنیزو صنعتونو/ تشبثاتو او کوچنیو اومنځنیو صنعتونو کې د پروګرام له لوري له خبرتیا په شکل دوی ته د عامې ټولنې په اړه روزنه برابرول، چې د ټولنې ( مدیریت: د منفي تأثیراتو لست: او د تطبیق لپاره چک شوی لست ) څنګه چمتو کیږي.

۷. د پروګرام له لخوا د کوچنیو او منځنیو صنعتلرونکو ته په غوښتنلیکونو کې د ټولنې اوچېریال ساتنې اړتیاوې را برسیره کول. چې باید له دوي سره په دې لړکې د ملاتړ غوښتنه وشي.

۸. هغه ټولې فرعي پروژې چې د پروګرام تر پوښښ لاندې سیمو کې پلي کیږي د غوښتنلیک اروزنه یې باید د (BDOs) لخوا وشي او څېړنه یې باید د ولایتي صنعتي اسانچارو لخوا وشي. څو ډاډ ترلاسه شي چې منفي اثرات په دې پروژه کې کم شوي،ترڅو د داسې ټولو پروژو ملاتړ د پروګرام لخوا و شي. د دې لپاره چې په ټولنه کې منفي اثرات په نښه شي، د ارزونو په غوښتنلیکونو کې یې باید د ستونزو ترڅنګ د سور رنګ بیرغ یا جنډه هم ترسیم شوې وي.

۹.په دې اړه به تصدیق نامه یواځې هغو صنعتونو /تشبثاتو ته ورکول کیږي، چې صنعتونه یې دچاپېریال د ککړتیا په اړه د بدو اثراتو کمښت څرګند کړي او یا هم د کمښت لپاره په تدریجي ډول کوم پلان له ځان سره ولري.

۱۰. د پروګرام د حفاظتي تدابیرو کارپوه به د ارزونې په سره رنګ لیکل شوي غوښتنلکیونه چې د سور رنګ بیرغ ورسره خوا کې دی بیا کتنه کوي، هسې نه چې پرته له کتنې تصدیق شوي وي.

۱۱. د څارنې او ارزونې ولایتي مامورین به د ټولنې او چېریال ساتنې په اړه د زده کړو، د چک لستونو او د مرستو څارنه او ارزونه کوي، چې د پروګرام لخوا ګټه اخیستونکو ته وړاندې شوي.

۱۲. د ټولنې اوچېریال ساتنې د حفاظتی اتدابیرو راپور به په ولایتونو کې د څارنې اوارزونې د مامور لخوا بشپړیږي، بیا به د تصدیق لپاره د حفاظتي تدابیرو د پلي کولو مشر مامور ته لیږل کیږي.

۱۳. د څارنې او ارزونې په موخه به د ټولنې او چاپیریال ساتنې په اړه راپورونه په ربعي شکل د پروګرام د (SIU) څانګې لپاره ترتیبیږی.

۱۴. د ملاتړیزو مرستو، څارنو په اړه به روزنې د نړیوالو مشاورینو/ سلا کارانو په وسیله ترسره کیږي.

۱۵. په ستونزمنو موضوعاتو کې به ځانګړې سلا مشورې موجودی وی، چې په اړوند موضوع کې ترینه کار واخیستل شي.

۱٦.  (SIO) به دا باور ترلاسه کوي، چې له رسمي خلکو سره د چاپيريال ساتنې په ملکي اداره کې ځانګړي اړيکې او تماسونه نيول شوي.

# ۱۳ د ملپاڼو لست:

ا.  **(A)  ملپاڼه: د** WEE-RDP په فرعي پروژو کې د منفي کړنو لست.

ب.  (B) مل پاڼه:د تاريخي لرغونو اثارو د ناڅاپي موندنې لپاره تګلاره.

ج.  **(C) مل پاڼه: د لرغونو او تاريخي اثارو منفي لست**

**د.**  (D) مل پاڼه:د ماينونو اوچاودېدونکو توکوڅخه د سيمو د پاکوالي د باور ترلاسه کول لپاره د تصديق نامی تګلاره.

**ه.**  (E) مل پاڼه: د ټولنې او چاپېريال ساتنې د څانګې (SIU) کارکوونکو لپاره  د دندو کاري لائحه

**و.  (F) مل پاڼه: د ټولنې او چېريال ساتنې د حفاظتي تدابيرو چک لست.**

ز.  (G) ملپاڼه: د ټولنې او چاپېريال ساتنې دمديريت کاري چوکاټ لپاره  قالب يا کاري اندازه.

ح.  (H) ملپاڼه: د WEERDP لپاره د شکاياتو د کمېټ او له منځه تللو په مناسبت کاري چوکاټ.

ط.  (I) ملپاڼه: د شکاياتو د حل او له منځه وړلو په موخه د کميټې د جوړولو لپاره لارښود کتاب/ يا لار ښوونه.